New Life
Programme

# مونږ څنګه

# باید

# دعا وکړو؟

ICI University

# موږ څنګه باید دعا وکړو؟

لیکونکی: رابرټ اشکرافټ

*ICI University*
Nicosia, CYPRUS

# مونږ څنګه باید دعا وکړو؟

اول چاپ ۱۹۹۹

Poshto “When you pray”

**When you pray**
**By Robert Ashcroft**

ICI University
Nicosia, CYPRUS

# فهرست

| عنوان | صفحه |
|---|---|
| د دعا په وخت کې د خدای په باره کې فکر وکړئ | ۱ |
| د دعا په وخت کې په صحیح طریقې سره د خدای په حضور کې حاضر شئ | ۲۰ |
| د دعا په وخت کې خدای ته غوږ ونیسئ | ۳۹ |
| د دعا په وخت کې د خدای د کلام څخه استفاده وکړئ | ۵۳ |
| د دعا په وخت کې د نورو په هکله فکر وکړئ | ۷۲ |
| د دعا په وخت کې د نورو سره یو ځای شئ | ۹۱ |
| د دعا په وخت کې روح القدس ته وخت ورکړئ چې تاسو سره مرسته وکړي | ۱۱۰ |

## لومړی لوست

## د دعا په وخت کې د خدای په باره کې فکر وکړه

- خدای به تاسو ته دعا کول در زده کړي.
- خدای ښه دی.
- خدای تاسو سره مینه کوي.
- خدای زمونږ پلار دی.
- خدای قادر مطلق دی.

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو...

- د دعا په وخت کې د خدای په باره کې فکر وکړه. په دې باور او یقین ولره چې خدای تاسو سره مینه کوي او غواړي چې د ټولو نه غوره او بهتر کار تاسو لپاره سر ته ورسوي، دعا کوه.

## خدای به د دعا کولو طریقه تاسو ته وښیي

آیا تاسو تر اوسه پورې د ځینو خلکو په باره کې فکر کړی دی چې د هغوی دعاګانې څنګه ښې قبلیږي او داسې ښکاري چې ستاسو ډیرې دعا ګانې بې جوابه پاتې شوي

دي؟ او يا ځينی خلک په ډير اطمينان او تسلی سره د خدای سره خبری کوی، حال دا چې تاسو په دې هم نه پوهيږۀ چې خدای ته څه ووايی يا ولی ځينی وخت د خدای حضور احساسوی او په نورو وختونو کې داسې معلوميږی چې تاسو صرف يو ديوال ته مخاطب يۍ؟ غالباً چې دا سوالونه به د هر يو مسيحی په فکر کې ګرزيدلی وی.

تر دې پورې چې د مسيح شاګردانو هم د دعا په باره کې مشکلات درلودل. هغوی کولای شول چې د دعا اهميت د مسيح په ژوند کې ووينی او همدارنګه بايد چې هغوی مشاهده کړی وای چې څومره عجيبه پيښنی د هغه د دعا په جواب کې سرته رسيدلی. د دې سره، سره ئې د هغۀ نه خواهش وکړ:

لوقا ۱۱ : ۱" .... مالکه! مونږ ته د دعا چل وښيۀ لکه څنګه چې يحيیٰ خپلو مريدانو ته ښودلے وو. "

د دې کتاب د مطالعی په وخت بايد چې زمونږ دعا هم دا وی. خدای غواړی چې زمونږ دې دعا ته جواب ورکړی. په حقيقت کې هغه، هغه څوک دی چې د دعا خواهش او شوق يی په مونږ کې آچولی دی. خدای د پيدايښت په وخت کې د خپل ځان په باره کې زمونږ په زړونو کې شوق او مينه پيدا کړه. چې په نتيجه کې مونږ دې خبری ته پام کوو چې د خپلو مشکلاتو، او د خپل ځان د حفاظت او د خپلو احتياجاتو د رفع کولو د پاره داسې يو قدرت ته

ضرورت لرو چې زمونږ د زور او قدرت څخه اوچت وی او د مرستی د حاصلولو لپاره ماورا الطبیعه قدرت ته سوال کونکی کیږو. ولی زمونږ د دعا اصلی محرک د دې عواملو نه ډیر مهم او لوړ دی. مونږ په خپل وجود کې د یو داسې اوچتی هستی او شخصیت د عبادت او د خدمت کولو احتیاج وینو چې هغه زمونږ نه ډیر لوړ اوچت دی.

څومره به ښه وی چې زمونږ دا عبادت د هغه مالک درگاه ته وی چې زمونږ خالق دی. ځکه په دې وخت کې مونږ کولای شو چې د هغهٔ، هغه رضا احساس چې یی زمونږ د پاره لری ترې خبر شو. مالک خدای مونږ په داسې طریقی سره پیدا کړی یو چې د مختلفو مسئلوپه باره کې د هغه سره خبری وکړو او هغه مونږ سره خبری اتری وکړی او مرسته راسره وکړی. د خدای سره د دې شراکت نه غیر، ژوند بې معنی دی.

مالک خدای مونږ دعوتوی چې په دعا کې د هغه حضور ته ورشو او خپل ضرورتونه هغه ته بیان کړو. او د هغهٔ په باره کې فکر وکړو، یعنی د دنیا د خالق او هر څه چې په هغهٔ کې موجود دي. مالک او د عالم هستی څرخونکی، غواړی چې له مونږ سره خبری وکړی. هغه مونږ پیدا کړی یو، مونږ درک کوی، مونږ سره مینه کوی او هم غواړی چې له مونږ سره مرسته وکړی. هغه کتاب چې هغه مونږ ته راکړی (مقدس کتاب) زمونږ څخه دعوت کوی چې خپل مشکلات هغه ته وړاندې کړو او هر څه په خپله ژبه

بیان کړو. د خدای سره خبری کول همدی ته دعا ویل کیږی هغه مونږ ته فرمائي:
یرمیا ۳۳: ۳ "چې ته مې وبولی نو زه به جواب درکړم او لوی او پټ څیزونه چې ته ئې نه پیژنی زه به ئې درباندې ظاهر کړم."
اطمینان ولری، چې که چیری د مقدس کتاب تعلیمات د دعا په باره کې مطالعه او هغه عملی کړی، خدای به هم تاسو ته د دعا کولو طریقه در وښیی. د دې کتاب هره یوه حصه د مقدس کتاب اصول بیانوی. ساده او بسیط اصول چې د دعا په وخت به له تاسو سره مرسته وکړی. دا کتاب د عملی پیشنهادونو او د هغه د اجرا کولو د طریقو څخه معمور دی. د دې حصی عنوان "د دعا په وخت د خدای په باره کې فکر وکړی" هغه اصل دی چې عیسی ئې مونږ ته را زده کوی. که چیری مونږ د هغۀ دعا د نمونو څخه چې هغه به خپلو شاګردانو ته ښودلی وه پیروی وکړو نو باید چې د دعا په شروع کې پرې وپوهیږو چې خدای څوک دی. او د هغه احترام وکړو او دعا وکړو چې د هغه اراده سر ته ورسیږی. نو داسې دعا کوی:

متی ۶: ۹- ۱۰ "ای په آسمان کې زمونږ پلاره!
ستا نوم دې پاک وی.
ستا بادشاهی دې راشی.
ستا مرضی دې په مځکه پوره شی

ځنګه چې په آسمان کې پوره کيږي. "

## ستاسو کار
## هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوی

هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوی د سوالونو د جملې څخه به له تاسو سره مرسته وکړی چې دا لوست بيا تکرار کړی او په خپل ژوند کې يې عملی کړی:

۱- لوقا ۱۱: ۱ او ارميا ۳۳: ۳ پنځه ځله ولولی:

همدا رنګه هر کله چې دا درسونه مطالعه کوی نو فکر وکړی چې تاسو به څنګه وکولای شی چې دا دوه آياتونه په خپل ژوند کې عملی کړی.

۲- په خپله کتابچه کې هغه دليل ياداشت کړی چې د دې د وری مطالعی ته تاسو مجبوروی او په کار مو آچوی.

۳- د دې درس په عنوان کې مقدس کتاب کوم اصل سره مخامخ کيږی؟ او چا د هغې تعليم ورکړ؟

۴- کله چې دعا کوی د دې لاندې دوه موضاعاګانو څخه د کومی يو په باره کې فکر کوی؟ هغی ته مخامخ يوه علامه وليکی.

الف) د خدای په باره کې يعنی چې هغه څوک دی، کوم کار ئې ستاسو د پاره سرته رسولی دی او ستاسو څخه څه غواړی.

ب) د خپل ځان په باره کې او د خپلو مشکلاتو او د هغه څه په باره کې چې ئې د خدای څخه غواړی.
همدا اوس ستاسو څخه هیله کوم چې د هغه څۀ په باره کې چې خدای ئې په دې درس کې ستاسو څخه غواړی په نظر کې ونیسی او د هغۀ سره خبری وکړۍ. خپل جوابونه وګوری او صحیح ئې کړۍ.

## خدای نیک دی

د ځینو اشخاصو سره د خبرو په وخت کې زمونږ فکر صرف د خپل ځان او خپلو اختیاجاتو ته متوجه نه وی. مونږ په لمړی سر کې د مقابل شخص په هکله کې فکر کوو چې آیا هغه څوک دی؟ او د هغه کار او وظیفه څه ده؟ زمونږ سره څه نسبت لری؟ د همدې کار د اصل او بنسټ په اساس د خدای سره د خبرو کولو په هکله په دې کتاب کې ذکر شوی دی:
د دعا کولو په وخت کې د خدای په هکله کې فکر وکړۍ. په حقیقت کې دا د عبادت او پرستش د اصلی اجزاو څخه یو جز دی.
د هر څه د مخه باید وپوهیږو چې خدای نیک دی او په همدې دلیل سره هغه غواړی چې د هغه عواملو څخه چې زمونږ د نا آرامی سبب کیږی خلاصون راکړی. خدای غواړی چې په خوشحالۍ سره مونږ ته سلامتی او برکت

راکړی او له مونږ سره مرسته وکړی چې ښه او ګټور ژوند ولرو. د خدای د نیکی په باره کې فکر کول د دې باعث ګرځی چې د سلم زبور غږونکی سره هم آواز شو!

زبور ۱۰۰

۱- ای ټولی مځکی خدای ته د خوښۍ ناری وکړۍ.

۲- په خوشحالۍ سره د خدای عبادت وکړی او د هغه حضور ته د سندرو سره راشۍ.

۳- تاسو پوهیږۍ چې خدای هغه خدای دی چې مونږ یې پیدا کړو. او مونږ د هغه یو مونږ د هغه قوم یو او د هغه د ورشو ګډی یو.

۴- د هغه په دروازه کې په شکر ګذارۍ سره داخل شۍ. او په حمد سره د هغه په غولی کې د دۀ شکر وکړۍ. او د دۀ نوم ته مبارک ووائی.

۵- ځکه چې خدای نیک دی. او د هغه رحمت او امانتداری تر ابده ده.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۵- ۱۰۰ زبور پنځه ځله ولولۍ او د هغه د آیاتونو په ارتباط لاندې سوالونو ته جواب ورکړی.

الف) څوک باید د خدای په وړاندې سرود ووایی؟ (۱ آیات)
ب) څنګه کولای شو چې د خدای حضور ته حاضر شو؟ (۲ آیات)
ج) څه شی باید پرله پسی زمونږ په فکر کې اوسی؟ (۳ آیات)
د) په هغه ځای کې چې د خدای عبادت کوو باید چې په کوم اخلاق او سلوک سره اراسته اوسو او د خدای په وړاندې حاضر شو؟ (۴)
ه) پنځم آیات د خدای په هکله مونږ ته څه رازده کوی؟
که چیرې تاسو په کوم سرود پوهیږی، نو هغه خدای ته ووایی.

## خپل جوابونه مقایسه کړی.

## د خدای تاسو خوښیږی

مونږ او تاسو د خدای خوښیږو، او دوست مو ګڼی، مینه او محبت د هغه د طبیعت د اجزاو څخه یو جز دی. پلار، خپل زوی عیسی مسیح دې جهان ته د دې لپاره راولیږه تر څو چې:

۱) زمونږ سره د هغه د محبت په هکله خبری وکړی. ۲) او چې هم هغه محبت کوم چې ده د خپل ژوند او مرګ په وسیلی سره زمونږ لپاره سر ته ورساوه ثابت کړی او ۳) چې مونږ ته دا امکانات برابر کړی چې د هغه سره واوسیږو او محبت یی تر ابده پورې زمونږ د حال سره شامل شی. عیسی وویل:

یوحنا ۳: ۱۶ "خدای د دې دنیا سره داسې مینه وکړله چې خپل یکی یو زوی ئې هم ورکړو چې هر هغه څوک چې په زوی ئې ایمان راوړی هغه هلاک نۀ شی خو د تل عمری ژوندون بیا مومی."

نو لکه څنګه چې خدای نیک دی. دغه رنګ هغۀ د دې جهان د پاره چې هغه په خپله خلق کړی، خاص معیارونه هم مقرر کړی دي. مونږ ته هغه ښه او بد په مقدس کتاب کې را زده کوی او د نیک کارونو په اجرا کولو کې له مونږ سره مرسته کوی. هغه د ټول جهان حاکم دی د دې په خاطر باید هغه زمونږ د ښو او بدو عملونو په هکله قضاوت وکړی نیکانو ته اجر ورکړی او بد کاران تنبیه کړی. مګر متاسفانه چې مونږ ټولو ګناه کړی ده. که چیری زمونږ لپاره د خلاصون لار نه وه تیاره شوی، نو په هغه وخت کې به زمونږ محکومتیا دا وه چې تر ابده پورې به د خدای څخه جدا پاتی شوی وو.

مګر خدای یوه چاره وسنجوله، مونږ د دې اندازی پورې په هغه ګران وو چې خپل زوی عیسی مسیح ئې راولیږه تر

ځو چې زمونږ پر ځای محکوم شی. عیسی مسیح هم مونږ سره مینه درلوده او زمونږ د گناهونو د پاره ئې خپل ځان قربان کړ او بیا ژوندی شو او آسمان ته لاړ او یوه ورځ به بیا راشی چې هغه نوی دنیا چې پلار ئې خلق کړیده هر څه نیک او ښه کړی.

یوحنا ۱۰: ۱۰ " .... او زه دې له راغلی یم چې خلق ژوندون ومومی او ډیر ئې ومومی."

مونږ که چیری د دعا په وخت کې د خدای د هغه محبت په هکله فکر وکړو کوم چې هغه خوشحاله کړو. په داسې حال کې چې د خپلو بدو اعمالو څخه پیښمانه یو، او د هغه نه به دا خواست وکړو چې مونږ وبخښی او له مونږ سره مرسته وکړی چې د تل لپاره هغه څه چې ښه او نیک دي سر ته ورسوو.

اول یوحنا ۱: ۹ "که مونږ د خپلو گناهونو اقرار کوو، نو هغه وفادار او صادق دی، او هغه به زمونږ گناهونه معاف کړی او د هر قسم بدو نه به مو پاک کړی."

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۶- یوحنا ۳: ۱۲ پنځه ځله ولولۍ. تاسو د څه شی نه دا اطمینان حاصلوی چې خدای تاسو سره مینه کوی.
۷- څنګه کولای شو چې د خپلو ګناهونو نه پاک شو؟

## خپل جوابونه مقایسه کړۍ

## خدای زمونږ پلار دی

هر کله چې عیسی د خپل خلاصونکی په حیث قبول کړو، نو په هغه وخت کې خدای زمونږ پلار کیږی. هغه د دې نه غیر چې مونږ قبول کړی خپل زامن مو ګڼی او روح القدس رالیږی تر څو چې په مونږ کې ژوند وکړی او مونږ ته نوی طبیعت راوبخښی او مونږ د خدای اولاد کړی. عیسی مونږ ته دا درس راکوی چې د دعا په وخت خدای ته پلار ووایو لکه څنګه چې هغه په خپله دا کار کاوه. تاسو فکر وکړۍ چې څه یو لوی افتخار دی چې د جهان خالق ته خپل پلار ووایو. مونږ اجازه لرو چې په هر لحظه کې هغه ته ورشو او خپل ټول احتیاجات خپل آسمانی پلار ته

ووايو. عيسی وائی چې خدای زمونږ سره مينه کوی او هغه غواړی چې زمونږ احتياجات مونږ ته راکړی.

يوحنا ۱۲: ۲۵- ۲۲ "ځکه چې په پلار تاسو په خپله ګران يی ... "

متی ۲: ۲۵- ۲۲ " ځکه زه تاسو ته وايم چې د خپل ژوند د پاره د خوراک څښاک سودا پريږدی او د ځان پټولو د پاره د جامو غم مه کوی. آيا ژوند د خوراک څښاک نه او وجود د جامو نه افضل نۀ دی؟ د هوا مارغانو ته وګوری، دوی نه خو کری او نه ريبی او نه ئې په خمبو کې جمع کوی خو بيا هم ستاسو آسمانی پلار هغوی له رزق ورکوی. تاسو د مارغانو نه ډير غوره يی! په تاسو کې داسې څوک شته چې هغه په انديښنو خپل ژوند يو ساعت قدری زيات کړی؟"

متی ۷: ۱۱ "که تاسو څوک چې دومره بد کاره يی، په دې پوهيږی چې خپل اولاد له ښه څيزونه ورکړی، نو ستاسو آسمانی پلار به څومره غوره څيزونه هغه چا ته ورکوی چې څوک ئې ترې غواړی!"

زمونږ کار دا دی چې خپل ټول احتياجات مالک خدای ته وړاندې کړو. دا کار د دعا د اصلی او اهمو برخو څخه

عبارت دی. مونږ خپل خواستونه هغه ته وړاندې کوو او هغه د خپلې وعدې په مطابق جواب راکوی. دا خبره ضرور نه ده چې مونږ د دې په لټون کې شو چې خدای به څنګه زمونږ خواست ته جواب راکړی. هغه د هر کار په سر ته رسولو قادر مطلق دی. سره د دې چې خدای زمونږ پلار دی د هغه نه خواست کوو.

لوقا ۱۱: ۹ "وغواړئ نو تاسو ته به درکړی شی."

| | |
|---|---|
| د خدای پوره کول | زمونږ اختیاجات |
| د خدای قدرت | ستاسو کمزوری |
| د خدای بخښنه | ستاسو ګناهونه |
| د خدای محبت | ستاسو بې کسی |
| د خدای هوښیارتیا | ستاسو ناپوهی |
| د خدای حکمت | ستاسو مشکلات |
| د خدای شفا | ستاسو مریضی |

ستاسو کار
هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۸- آیا عیسی مو د خپل خلاصونکی په حیث قبول کړی دی؟ که چیری داسې وی، نو د خدای څخه په دې خاطر

چې ستاسو پلار دی شکر گذاری وکړی. که چیری داسې نه وی. آیا غواړی چې د یو بل سره دعا وکړو؟
"ای خدایه زه غواړم چې ته زما آسمانی پلار شی. تاسو چې خپل زوی زمونږ د پاره راولیږه ستاسو ډیر شکر گذار یم. خدایه ستا څخه هیله کوم چې هر هغه غلط کارونه چې ما کړی دي را ته ئې وبخښه او را سره مرسته وکړه چې همیشه هغه کارونه وکړم کوم چې ښه او نیک دي."

۹- یوحنا ۱۲: ۲۷، متی ۲: ۲۵-۲۲ متی ۷: ۱۱، لوقا ۱۱: ۹ پنځه ځله ولولی. په پورتنی لیست کې د خپل هر یو احتیاج تر خوا ایکس علامه ولیکی. او دغو احتیاجاتو لپاره دعا وکړی او د هغو د جواب لپاره د خدای څخه شکر ادا کړی.
۱۰- که چیری تاسو د کوم بل شی احتیاج یې او غواړی چې خدای هغه درکړی نو په خپله کتابچه کې ئې ولیکی. نو بیا د هغې په باره کې دعا وکړی او هر کله چې خدای ستاسو دعا ته جواب درکړی، د هغه جواب تاریخ له ځان سره ولیکی.

## خدای قادر مطلق دی

خدای قادر دی چې هر یو کار سر ته ورسوی ځکه چې د هغه وجود لایتناهی او نا محدود دی.

هغه د یو ځای او مکان پورې محدود نه دی او هر چیری حاضر دی. همدارنګه هغه د یو وخت او زمان پورې هم نه محدودیږی. هغه همیشه وه او وی به. او په بل عبارت هغه ابدی دی. هغه لکه څنګه چې حال زمانه وینی همدارنګه ماضی او آینده زمانه په واضح طور سره مشاهده کوی ځکه چې د هغه پوهه نا محدوده ده. هیڅ یو کار د هغه له نظر نه مخفی نه دی، تر دې چې زمونږ په افکارو او خیالونو باندې هم پوه دی.

خدای مونږ ډیر له نژدی څخه درک کوی او پوهیږی چې مونږ ته څه شی ښه دي. هر کله چې د هغه په وړاندې دعا کوو او د هغه څخه د هدایت طلب کوو نو کولای شو چې د هغه په نامحدوده علم او دانش او محبت باندې پوره اطمینان ولرو. د هغه ټول کارونه صحیح دي. مونږ کولای شو چې خپل ژوند هغه ته په خوشحالی او اطمینان سره وسپارو.

(شتوالی)

(حکمت)

خدای په (علم او دانش کې نامحدود دی)

(ښوالی)

(قدرت)

(محبت)

د خدای قدرت نامحدود دی. هغه ټول مخلوقات خلق کړل او د خپلو اوامرو پواسطه ئې اداره کوی. د طبیعت قوانین

هغه عملونه دي چې خدای په خپله په دنیا باندې مقرر کړی دي. ولی هغه په خپله په دی قوانینو کی نه محدود کیږی. مالک خدای کولای شی چې د خپلی خوښی او هدف په مطابق د طبیعت د قوانینو عمل سست یا تیز کړی تر دې پورې امکان لری چې د خدای په امر سره د عالی قانون په وسیله د هغی عمل په موقتی توګه تاخیر وکړی او په نتیجه کې معجزه منځه ته راشی. د عیسی د معجزو په باره کې لولو چې هغه مریضانو ته شفا ورکړه، مړی ئې ژوندی کړل ړندو ته ئې بینائی او کڼو ته ئې د آوریدو توان ورکړ. خو دا ټولی معجزی ئې په یوه کلمه او په یو حرکت سره سر ته ورسولی. مونږ باید هیڅ کله د دې په لټون کې نشو چې خدای به په کومه طریقی سره زمونږ سوالونو ته جواب ور کوی.

متی ۱۹: ۲۶ " ... ولی خدای هر څه کولای شی."

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۱۱- دغه لوی حقیقتونه تکرار کړی.

خدای نیک دی او غواړی چې زما دعا ته جواب ووائی.

خدای په هر ځای کې شته دی او اوس هم زما تر څنګ دی.

ټول حکمت د خدای څخه دی. او هر هغه څه چې د ټولو څخه بهتر دي هغه به ئې سر ته ورسوی.
خدای زما پلاری دی او هغه غواړی چې زما احتیاجات پوره کړی.
د خدای زه خوښیږم او زما هم خدای خوښیږی.

هر کله چې تاسو دا جملی لولی څهٔ احساسوی؟ ستاسو څخه هیله لرم چې هره ورځ یو د خلوت او د آرام ځای پیدا کړی. او مخکې له دې څخه چې په دعا کولو شروع وکړی، دغه حقیقتونه تکرار کړی. دغی عمل ته تر هغه وخته پورې دوام ورکړی، نو بیا په هره موقع کې دعا کوی چې د خدای فکر په حقیقی توګه ستاسو ټول بدن نیولی وی.

## خپل جوابونه مقایسه کړئ

۱- امکان لري چې ستاسو جوابونه زما د جوابونو سره فرق ولري.
همدارنګه هر کله چې زه د هر درس په مطالعه پیل کوم لوقا ۱۱: ۱ خپله دعا ګرځوم او پس له هغې نه د یرمیا ۳۳: ۳ وعدې بیا خدای ته تکراروم.
۲- ستاسو خپل دلیل
۳- کله چې دعا په باره کې فکر وکړئ. عیسی
۴- ستاسو خپل جواب. ډیر خلک د ب تر خوا علامه لیکي.
۵- الف) د مځکې ټول مخ.
ب) د خوښی په آواز سره.
ج) مونږ. هغه پیدا کړي یو او د هغه یو.
د) په حمد او ثنا او صفت او شکر ګذاری.
ه) هغه نیک دی. د هغه محبت ابدی دی. او هغه تل وفادار دی.
۶- خپل زوی عیسی مسیح ئې زمونږ د پاره قربان کړ.
۷- په عیسی باندې ایمان راوړل او د خدای څخه وغواړو چې زمونږ ګناهونه وبخښی.
۸- ستاسو خپل جواب.
۹- او ۱۰ ستاسو خپل جواب.

۱۱- همدارنګه ډیر باور او اعتماد د خدای په نسبت په خپل ځان کې احساسوی او ډیر علاقمند کیږی چې په دعا کې د هغه سره خبری اتری وکړی.

## دویم لوست

## د دعا په وخت کې په صحیح طریقې سره د خدای په حضور کې حاضر شئ

- صحیح طریقه څه شی دی؟
- په کوم حالت کې؟
- چیری؟
- په کوم وضعیت کې؟
- د کوم مثال په مطابق؟

دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی تر څو....

- په صحیح او ښه سلوک سره د خدای په حضور کې حاضر شئ.
- د مقدس کتاب د تعلیماتو څخه د دعا د وخت او ځای او څرنګوالی په باره کې پیروی وکړئ.

صحیح طریقه څه ته وائی؟

ځینی خلک سوال کوی: "چې آیا د دعا کولو طریقه څه اهمیت لری؟" او یا "آیا ټول مذهبونه په خدای نه تمامیږی؟" عیسی جواب ورکړو:

یوحنا ۱۴: ۶ "زه لار یم، زه حق یم او زه ژوندون یم. هیڅوک هم زما د وسیلی نه بغیر پلار ته نه شی راتلی."

نو د دې په خاطر چې هغه زمونږ د پاره کړې دي خدای ته ورځو، مونږ د عیسی په نوم د هغه د وعدو په مطابق دعا کوو. بلکل لکه چې آسمانی بانک ته یو چک لیکو او په دې باور او یقین چې د هغه په اعتماد کې به هیڅکله کموالی را نشی. عیسی په خپله هلته موجود دی د دې لپاره چې خپله وعده تکمیل کړی اجازه راکوی چې د خپل حساب نه مونږ تائید کړی. عیسی هغه کسانو ته چې په هغه ایمان لری فرمایی:

یوحنا ۱۴: ۱۳ "رښتیا چې تاسو څه چې هم زما په نوم وغواړۍ هغه به زه کوم ځکه چې د پلار جلال په زوی کې څرګند شی."

عبرانیان ۱۰: ۱۹، ۲۰ "نو اوس ای ورونو! چې مونږ د عیسی د وینی په سبب پاک ترین مقام ته په داخلیدو زړه وریو."

عبرانیان ۴: ۱۴-۱۶ "نو بیا چې مونږ داسې لوی مشر کاهن لرو، یعنی عیسی د خدای زوی چې د خدای حضور ته لاړو، نو راځئ چې مونږ د خپل ایمان په اقرار ټینګ پاتی شو ځکه چې زمونږ داسې مشر کاهن نه دی چې

زمونږ په کمزورتیاؤ کې همدرد کیدی نه شی بلکه هغه په ټولو خبرو کې زمونږ په شان و آزامئیلی شو خو بیا هم بې ګناه پاتی شو نو راځئ چې مونږ د خدای د فضل د تخت په وړاندې په زړه ورتیا یون کوو چې په مونږ رحم وشی او هغه فضل حاصل کړو کوم چې د حاجت په وخت زمونږ مدد وکړی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- کله چې تاسو په دعا کې "د عیسی په نوم" لغات استعمالوی د لاندې شیانو په هکله ستاسو مراد د کوم یو څخه وی؟

الف) زه د خدای څخه د خپلو نیکو کارونو په وسیله نه بلکه د هغه کارونو په وسیله چې عیسی زما لپاره سرته رسولی خواست کوم. او هغه کار چې سبب شو چې د هغه زوی شوم.

ب) زه د هغه شیانو د لاس ته راوړو په خاطر راځم چې عیسی را سره د هغوی وعده کړیده.

ج) زه د عیسی مسیح پورې تعلق لرم او د هغه څخه غواړم چې ما سره مرسته وکړی.

د) دا هغه شیان دي چې مسیح یې غواړي، ځکه چې د هغه د نهضت د مخ ته تللو باعث شوی دی او هغه خوشحالوی. نو د دې په خاطر زه د هغه لپاره د هغه په نوم د یو شي خواست کوم.
ه) عیسی، زما د مشر کاهن په صفت، ستا څخه هیله کوم چې د خپل خدای څخه دې په خپل نوم زما لپاره وغواړه.
و) په واقعیت کې زه د دې کلمو په معنا نه پوهیږم خو د عادت په مطابق هغه استعمالوم.
ر) دغه کلمی د سحر د فرمول په شان پاتی کیږی او داسې تصور کیږی چې زما دعا آوریدلی شی.
ز) زه په دې دعا کوم ځکه چې عیسی فرمایلی دي او په حقیقت کې نه پوهیږم چې هغه کلمی څه معنی لری.
۲- تاسو د مقدس کتاب د کوم یو آیات څخه کار آخلی تر څو چې دا ښکاره کړی چې یوائی خدای ته نژدیوالی د عیسی مسیح په وسیله ممکن دی؟
۳- د عبرانیانو د ۴: ۱۴- ۱۲ په مطابق اوس د عیسی کار زمونږ لپاره په آسمان کې څه دی؟

په کوم حالت کې؟

احترام، خوشحالی، ممنونتیا، باور

د خدای د موجودیت په باره کې فکر کول، د هغه ښیګڼه، محبت او قدرت زمونږ سره مرسته کوی چې په ښائسته والی سره د هغه په حضور کې حاضر شو. مونږ د خپل خدای او پیداکوونکی حضور ته په احترام او عاجزی سره حاضریږو او خپل چمتوالی د هغه د حکمونو د اجرا کولو لپاره اعلانوو. مونږ په خوشحالۍ، ممنونتیا او باور سره د خپل پلار خوا ته ځو او پوهیږو چې مالک زمونږ کلام ته غوږ نیولی دی او زمونږ دعاګانو ته به جواب ورکوی، ځکه چې هغه مونږ سره مینه کوی او را سره ئې دا وعده کړیده چې هغه به زمونږ ضرورتونه حل کړی.

عیسی د دعا په باره کې داسې فرمایلي دي:

لوقا ۱۱ : ۹ او دغه شان زه تاسو ته وایم چې وغواړۍ نو تاسو ته به درکړای شی، ولټوی نو تاسو به ئې ومومی او ټوک چې ور ټکوی، هغه ته دروازه بیرته کیږی.

هر کله چې مونږ په صداقت سره دعا کوو او د خدای آواز اورو او د خپلی دعا جواب وینو په هغه وخت کې د تجربی له مخی دې حقیقت ته رسیږو چې هغه زمونږ دعا آوری او مونږ ته جواب راکوی.

دغه تجربه زمونږ ایمان قوی کوی. مونږ باید په صبر سره انتظار وکړو او عین حال کې باید باور ولرو او د آینده جواب قبلولو د پاره باید د هغه څخه مننه وکړو.

همدارنګه دا خبره یاده لری چې خدای هیڅکله تفرقه نه خوښوی د هغه هر ټوک خوښیږی او مونږ ټول خپل ځان ته

بلی. پطروس رسول دا حقیقت تجربه کړی دی او داسې ئې فرمایلی دي:
اعمال ۱۰: **۳۴- ۳۵** "ما ته معلومه شوه چې دا خبره څومره رښتیا ده چې خدای د هیچا طرفدار نه دی. خو په هر قوم کې چې څوک د خدای نه ویریږی او د صداقت کارونه کوی هغه د خدای خوښ دی.

## تواضع او پښیمانی

لاندې عیسی د صحیح دعا کولو د طریقی ښودلو په هکله د دوه کسانو د قصی په باره کې بیان کړی دی:

لوقا ۱۸: ۱۰ -۱۴ "دوه سړی د دعا د پاره د خدای کور ته لاړل، یو فریسی وو او بل محصولچی. فریسی ودریدلو او داسې دعا ئې وکړه، ای خدایه! ستا شکر دی چې زه د نورو خلکو په شان نه خو حرصناک، نه بد دیانته، نه زنا کار او نه لکه د دې محصولچی په شان یم. زه په هفته کې دوه ځله روژی نیسم او څه چې ګټم د هغې نه لسمه ورکوم. خو محصولچی لری ولاړ وو او پاس آسمان ته ئې ونه کتل خو خپله سینه ئې وهله او ویل ئې "ای خدایه! په ما رحم وکړه! زه ډیر ګناه ګار یم! زه تاسو ته وایم چې هم هغه سړی د هغه وړومبی نه زیات صادق شوی کور ته بیرته لاړو،

ځکه هر څوک چې ځان اوچتوی، هغه به غریب کړی شی او څوک چې ځان غریبوی، هغه به اوچت کړی شی."

مغرورتیا او د نورو عیبونه لټول ګناه ده. ګناه مونږ د خدای د حضور او برکتونو څخه جدا کوی، هغه فریسی نفر دروازه ځانته بندوله، مګر توبه او په ټولو بدو اعمالو پښیمانی، دروازه زمونږ پر مخ پرانزی تر څو د ګناه څخه خلاص او د خدای برکتونه حاصل کړو. تواضع د غرور او کبر په مقابل کې اهمه نقطه ده. هغه محصولچی په خپلو ګناهونو باندې خبر وو او اعتراف ئې وکړو. او هغه په دې پوهیده چې د خدای د برکتونو لایق نه دی (مونږ یو هم نه یو) مګر هغه د رحمت تقاضا وکړه او خدای هغه وبخښلو.

نفرت، غصه او د هغه خلکو نه بخښل چې زمونږ په ضد ئې ګناه کړي وی د دې سبب ګرځی چې زمونږ او د خدای تر منځ د دعا په وخت ممانعت او جدائی پیدا کړی.

عیسی وویل:

متی ۶: ۱۴- ۱۵ " ځکه چه که تاسو د هغه چا قصور معاف کړی چا چې درسره بد کړی وی، نو ستاسو آسمانی پلار به هم تاسو معاف کړی. خو که چری تاسو نور نه معاف کوی، نو ستاسو قصورونه به هم ستاسو آسمانی پلار معاف نهٔ کړی."

که چیری مونږ د یو شخص په خلاف ګناه او خطا کړی وی، نو عیسی مسیح مونږ ته دا تعلیم راکوی چې هغه کینه او ضد په معافی غوښتلو سره لری کړو. مونږ باید

همیشه دا توجه وکړو چې په کور کې یا د کار په ځای کې د نورو سره په مینه او محبت سلوک او رفتار وکړو. تریخوالی او بد سلوک د دعا د قبلولو د ممانعت سبب ګرځی.

متی ۵: ۲۳- ۲۴ "که چیری تاسو د قربانۍ ځای ته څه شی راوړی او درته رایاد شی چې ستا ورور په څه خبره درنه خفه دی، نو خپله قربانی په هغه ځای پریږده، لاړ شه، اول خپل ورور پخلا کړه او بیا راشه او خپل نذر وړاندې کړه."

د استلا په نوم، یو معلم چې د "پرو" د اهل څخه ؤ د روح القدس معمورتیا لپاره به ئې دعا کوله د دعا په وخت کې خدای هغه کینه او بغض چې د ده په زړه کې د بل چا لپاره وو وریاد کړو. او پدې طریقی سره یی خپلې دعا ته دوام ورکړ.

"خدایه زه هغه بخښم. ستا څخه هیله کوم چې بغض او کینه چې زما په زړۀ کې ده نو د دې لپاره ما وبخښه. سبا وختی به د هغه څخه معذرت وغواړم او په دې هکله به ورته یو خط ولیکم." په هماغه وخت کې د هغه زړه د یوی لوی خوشحالی څخه ډک شو او د خدای شکر ئې ادا کړ. خدای د هغه دعا قبوله کړه او هغه د روح القدس څخه معمور شو.

## صداقت او ربښتینوالی

د دعا په وخت کې د خپلو جملو صداقت او رښتينوالی ته فکر وکړۍ. ډير وختی داسې کيږی بې له دې چې د يو موضوع په باره کې فکر وکړو د هغې په هکله دعا کوو. عيسی د داسې موضوع په هکله ډير څه ويلی دي.

ستاسو کار
**هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوۍ**

**۴- په لاندې حالتو کې چې هر يو حالت غواړۍ چې په خپلو کې توسعه او عملی کړی د ضرب علامه وليکۍ.**
.... **خوشحالی** .... **صداقت** .... **غرور** .... **غوږ نيول** ....
**رښتينوالی** .... **تمجيد کول** ....**شکر ګذاری** .... **توبه** ....
**محبت** ....**بخښنه** .... **باور** .... **عاجزی** .... **عبادت** ....
**اطاعت** .... **احترام**

**چيری؟**

د ټولو نه اول بايد دا خبره په ياد ولرۍ چې خدای هر چيری موجود دی. سر بيره پر دې مونږ چې هر چيری چې يو خدای زمونږ اوری او جواب راکوی. سره د دې په مقدس کتاب کې لولو چې د دعا کولو لپاره خپل خاص ځايونه

وجود لری. زمونږ کلیسا ګانی د اورشلیم د معبد په شان د خدای د کور په عنوان مقدسی شوی دي تر څو مونږ د هغه ملاقات ته هلته لاړ شو. دا د عبادت خاص ځایونه دي.
مرقوس ۱۱ : ۱۷ خدای فرمایی: "زما کور به ټولو قومونو د پاره د دعا کور بللی شی."
عیسی مسیح خلکو ته دا خبره ورزده کړه چې دعا د ځای څخه ډیر اهمیت لری او ویی ویل چې په خپلو کورونو کې په خلوت کې دعا وکړی. هر کله چې مونږ په آرام او پټه خوله په خپل زړه کې دعا کوو، نو د دې اصل او حکم څخه پیروی کوو. مګر دا ښه خبره ده چې یو ځای ولرو په هغه ځای کې په ترتیب سره یواځی د خدای په حضور کې حاضر شو او دعا وکړو. او په هغه ځای کې کولای شی چې په آرام سره فکر وکړو او د خدای غږ واورو.
متی ۶ : ۶ "کله چې تاسو دعا کوی نو خپلی کوټی ته ننوځی، ور پورې کړی او خپل پلار ته په زارو شی، څوک چې د پردې په دغه ځای کې موجود دی او ستاسو آسمانی پلار څوک چې پټ رازونه وینی، هغه به بدل درکوی.
خدای په خپل کلام کې فرمایلی دي چې د نورو خلکو سره په یو اتفاق دعا کول هم اهمیت لری. تاسو کولای شی چې د هغه چا سره چې غواړی چې ستاسو سره په دعا کې شریک او یو ځای شی. که چیری ممکنه وی نو د خپلی کورنی سره یو ځای دعا وکړی. په ډیرو وختونو کې خلک د دعا لپاره په کورونو او یا په نورو مناسبو ځایونو کې

راټولیږي. د اعمالو په کتاب کې یوه داسې ډله وینو چې :
یعنی د ښځو یو ټولګی چې د سیند په غاړه به راټولیدلی.
د دې پورتنیو موضوعاګانو څخه علاوه تاسو به خاص
وخت ولری چې تر څو نورو ایماندارانو سره یو ځای شی او
د خدای په کور کې د هغه عبادت وکړی.
(په یوائځی توګه د یو ملګری سره)
دعا (د کورنۍ سره)
(د دعا د یو ټولګی سره په کلیسا کې)
(هر چیری چې تاسو اوسی)

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

**۵**- آیا تاسو یو ځای لری چې په خپل ټول زړه سره په خلوت کې هلته د دعا کولو لپاره کښینی؟ چیرته؟ هر برکت مو چې د دې دعا څخه موندلی وی په خپله یاداشت کتابچه کې ولیکۍ.
**۶**- د هغه ځایونو لیست جوړ کړۍ چې په هغو کې مو دعا کړی وی او یا هغه ځایونه چې په راتلونکی وخت کې یې په فکر کې لری.

## په کوم انداز کې؟

په مقدس کتاب کې لولو چې په ځینو ځایونو کې ځینی خلکو د عزت او احترام لپاره په ولاړی دعا کوله. په نورو حالتو کې په زنګنو کیدل. د زبور ویونکی د دعا په هکله د خپلی بستری ذکر کوی.

مونږ داسې هم لولو چې داؤد "د خدای په حضور کې کښیناست." او همدارنګه د پنتکاست په ورځ ۱۲۰ ایمانداران ناست ؤ چې د روح القدس څخه معمور شول.

مونږ که چیری د ډیر اوږد وخت لپاره دعا کوو، نو باید چې په آرام اوسو تر څو چې زمونږ ټول حواس خدای ته توجه ولری نه چې زمونږ نا آرامه حالت ته! په هر صورت! ځینی وخت دا هم امکان لری چې د بیداری او ویښتیا لپاره په دعا کې قدم ووهو او وګرځو.

ځینی ایمانداران په دعا کې خپلی سترګی پټوی د دې لپاره تر څو چې د دوی فکر د هر قسم واقعو او منظرو په لیدو د خدای څخه انحراف ونکړی. ځینی ایمانداران لکه د عیسی په شان خپلی سترګی آسمان پلو نیسی. ځینی وخت خپل سرونه ټیټوی او خپل لاسونه یو بل سره نژدې نیسی چې غالباً د اصلی عبادت او درخواست کولو نماینده ګی کوی. مونږ چې کله کله د نورو ایماندارانو سره په یو ځای دعا کوو نو د هغوی سره خپل لاسونه ورکوو. کله کله د مقدس کتاب د وخت او زمانی غوندې

خپل لاسونه د خدای په حضور کې پورته کوو او خپل لاسونه پدې طریقی سره نیسو چې ګویا د جواب د رانیولو په حالت کې یو. کله د یو کس لپاره دعا کوو، نو بیا داسې هم کوو چې خپل لاسونه په هغوی باندې د پاسه کښیږدو او د خدای لخوا دا اطمینان هم لرو چې خدای به زمونږ لاسونه د شفا لپاره استعمال کړی او د هغه کس د تشویقولو او تخصیصولو لپاره به ترې کار واخلی.

زبور ۹۵: ۶ "راځئ چې عبادت او سجده وکړو او د خپل خالق په حضور کې په زنګنونو شو."

زبور ۱۳۴: ۲ "خپل لاسونه مقدس ته پورته کړئ او مالک ته مبارک ووایی."

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۷- د مقدس کتاب په مطابق په لاندې دوه موضوعاګانو کې کومه یوه مهمه ګڼی د وجود طرز او انداز او یا د رفتار او سلوک؟

۸- د هغه دری طریقو په باره کې چې په عمومی ډول سره ئې خلک په دعا کې خپلو ځانونو ته اختیاروی، فکر

وکړی. ستاسو په نظر کومه یوه طریقه د بل نه ښه ده؟ او ولې؟

د کوم مثال په مطابق یاست؟

مونږ ته عیسی د دعا په هکله ډیر عالی او ښه مثالونه بیان کړی دي. مونږ هغې ته دعائی ربانی وایو او په دوه طریقو ورڅخه کار اخلو.

۱- د دعا په عنوان هغه په یاده زده کوو او تکراره وو یی.
۲- او زمونږ د دعاګانو لپاره مثال او نمونه.

متی ۶: ۹- ۱۳ "نو داسې دعا کوی:
ای په آسمان کې زمونږ پلاره!
ستا نوم دې پاک وی.
ستا بادشاهی دې راشی.
ستا مرضی دې په مځکه پوره شی
څنګه چې په آسمان کې پوره کیږی.
مونږ ته نن خپل نننۍ رزق راکړه.
زمونږ قصورونه معاف کړه
لکه څنګه چې مونږ خپل قصوروار
معاف کړی دی.
او مونږ په آزمیښت کې مه اچوه،

خو مونږ له د بدی نه امان راکړه.
ولی چې بادشاهی او قدرت
او لوئی تر همیشه پورې ستا دی." آمین

نو په دې طریقی سره زمونږ دعا د خدای په پوره پیژندلو او د هغه مرضی او اراده پر مځکه پوره کولو کې شروع او خاتمه مومی. آمین همداسې دې وشی.
عیسی د دعا په دې ښائسته مثال کې مونږ ته وایی چې باید داسې دعا وکړو.
"ای په آسمان کې زمونږ پلاره" خدای هغه څوک دی چې په دعا کې د هغه سره خبری کوو. مونږ لکه د بچو په شان په پوره باور سره خپل پلار ته ځو او د خپلو احتیاجاتو په هکله د هغه سره خبری کوو. او په ډیر احترام او قدر سره د هغه په حضور کې حاضریږو او دعا کوو، تر څو د هغه نوم محترم وګڼل شی چې مونږ او نور خلک یی عزت او احترام وکړو.
په دعا کې د ټولو څخه لمړی او مهمه موضوع دا ده چې په مختلفو موقعو کې د خدای اراده عملی شی، یعنی دا چې هغه څه چې خدای زمونږ لپاره فکر کوی هم هغه پوره کړی. مونږ که چیری د دعا کولو په وخت کې خدای ته اجازه ورکړو چې هغه په خپله مونږ هدایت کړی، نو ضرور هغه به زمونږ فکر هغه خوا ته متوجه کړی کوم کار چې هغه ئې په خپله غواړی چې زمونږ لپاره ئې وکړی. که

چيرى د خداى په ارادى سره دعا وکړو، نو بيا به پدې وتوانيږو چې د خپلى کورنۍ ضروورياتو لپاره، او د خپل ملت او د عيسى مسيح د کليسا لپاره فايده مند اوسو او بيا د هغه سره شراکت ولرو.

زمونږ آسمانى پلار مونږ سره مينه لرى او غواړى چې زمونږ ورځنى ضرورتونه تامين کړى. د ورځنى خوراک لپاره مناسب کار، سلامتيا او د کار کولو قدرت او توان، حکمت، صحيح ارتباط، ځاى او پوشاک ته ضرورت وى. هغه مونږ ته وايى چې دا ضروريات زما ځخه وغواړى.

دا زمونږ وظيفه ده چې بايد د خپلو ټولو ناوړه او بدو اعمالو په ارتباط د خداى ځخه د معافى او بخښنى طلب وکړو، او په هماغه وخت ټول هغه غلط فکرونه او احساسات چې د نورو خلکو په هکله يى لرو بايد چې هغه هير کړو. مونږ د خداى نه دا غواړو چې زمونږ د اشتباه ګانو او کمزوريو په اړوند له مونږ سره مرسته وکړى تر ځو چې هر يو کار په ښه او نيکه طريقه سر ته ورسو.

د دعا په وخت کې د خداى نه دا خواهش کوو چې مونږ هدايت او مرسته راسره وکړى چې د وسوسو د تاثير لاندې را نشو او هم خواهش کوو چې مونږ د شيطان د زور او قدرت نه په امان کې وساتى، ځکه چې شيطان په ذاتى ډول پليت او د خداى او زمونږ د ځان دښمن دى. او همدارنګه د خپل خداى ځخه په دعا کې غواړو چې مونږ د شيطان د حملو يعنى شک او ترديد ، ويرى، بدګمانى او

مرضونو نه او یا د هر هغه وسیلی او عواملو نه چې زمونږ په ژوند کې د خدای د ارادی د پوره کولو ممانعت کوی محفوظ وساتی.
په اخر کې خپل ځان ته دا وریادو چې خدای هر شی ته ګوری. هغه کامیابی ورکوی. د هغه قدرت او طاقت زمونږ د ټولو ضرورتونو لپاره کافی دی او د هغه د لوئی ورځ ووینو او تر ابده پورې به د هغه په بادشاهی کې د هغه سره ژوند کوو. جلال او قدرت د هغه دی. آمین.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۹- دعا ربانی لغت په لغت ولولئ. او په هره جمله باندې لږ فکر وکړئ او د هغې په هکله د خدای سره خبری وکړئ.
۱۰- نو اوس د خدای دعا یعنی دعا ربانی د خپل ځان لپاره مثال وګرځوی او هغه شان دعا د هغه په حضور کې وکړئ.

"ای پلاره چې په آسمان کې یې هم نن زما په رفتار کې دې خپل ځان ته جلال ورکړه. او دا موقع مساعده کړه چې نور خلک ستا محبت په ما کې ووینی او تا وپیژنی او ستا خدمت وکړی او داسې نور...."

۱۱- که چیری تر اوسه پورې مو دعا ربانی نه وی حفظ کړی نو همدا اوس یې حفظ کړئ.

## خپل جوابونه مقایسه کړئ

۱- د (الف) او (ه) جوابونه د ټولو نه ښه جوابونه دي. دا به ښه وی چې د دعا په وخت کې په دې دوه موضوع ګانو باندې فکر وکړو. نو په خواشینی سره باید ووایم چې ډیر خلک هر کله چې دې سوالونو ته جواب ورکوی، د و، ز، ل موضوع ګانی بیانوی. البته تاسو ته دا باید په ډاګه کړم چې د ز موضوع بلکل غلطه ده.

۲- یوحنا ۱۴: ۶

۳- هغه زمونږ د مشر کاهن په صفت عمل کوی، یعنی مونږ کولای شو چې په خپلو ټولو تکالیفو کې د هغه حضور ته ورشو نو هغه مونږ ته دعا کوی.

۴- ستاسو خپل جواب: شاید چې تاسو دا ټول بې له تکبره توسعه او په خپل ځان یې عملی کړئ. زه فکر کوم چې دا درسونه به له تاسو سره مرسته وکړی چې تر څو دې کار ته عملی بڼه ورکړی. زمونږ کمزوری مونږ سره مرسته کوی

تر څو یو قوت او طاقت پیدا کړو او خدای غواړی چې مونږ له یې راکړي.

**۵**- هیله لرم چې یو ځای به ولری او یا به ئې پیدا کړی. دا ممکنه ده چې په هغه ځای که ستاسو لپاره آسانه وی چې خپل ټول خواهشونه هغه ته پیش کړی او د هغه سره بې پردې خبری وکړی.

۶- امکان لری چې ستاسو په لیست کې دا وی چې په کور کې د کورنۍ سره، د ډوډۍ د پاسه، په کار کې، په یو خیابان کې او یا هغه وخت چې کار ته ځی او راځی، په پارک یا ځنګل کې، په مکتب او مدرسه کې، په تلیفون کې په کلیسا کې او یا په هر بل ځای کې چې تاسو یی.

۷- رفتار

۸- ولاړ په زنګنو او یا په ناستی، هر یو ته ترجیح ورکوی.

۹- ۱۱ هیله لرم چې د دې حکم په پوره کولو سره برکت ومومی.

## دریم لوست

## د دعا په وخت کې خدای ته غوږ ونیسئ

- خدای غواړي چې تاسو سره خبرې وکړي
- خدای تاسو سره په کومه طریقه خبرې کوي.
- د خدای غږ څنګه آوریدلی شو؟
- څنګه چې خدای فرمایي هماغه شان وکړئ.

دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو.....

- د خدای غږ ته غوږ ونیسئ.
- د خدای غږ وپیژنئ او د هغه د حکمونو په مطابق عمل وکړئ.

## خدای غواړي چې تاسو سره خبرې وکړي

موږ هر وخت د خدای سره خبرې کوو او هغه هم موږ سره خبرې کوي. ولې زموږ نه اکثره بې خبره یو. موږ باید غوږ نیول زده کړو. نو په دې اساس په خاص طرز سره به د خدای سره شراکت ولرو. هغه موږ ته هدایت راکوي او موږ څخه کار اخلي. او زموږ د دعا ګانو د جوابونه او معجزو لپاره موږ ته اجازه راکوي چې د هغه سره په کې

شراکت ولرو. د دعا په وخت کې د یو خاص موضوع په هکله کوشش وکړی او د هماغه موضوع په ارتباط د خدای آواز ته غوږ ونیسی. شاید چې هغه خپله اراده تاسو ته ښکاره کړی تر څو چې تاسو وکولای شی چې د هغه د سرته رسولو څخه د خپلې دعا جواب پیدا کړی.

مقدس کتاب په ډیرو برخو کې مونږ ته وایی چې د خدای آواز ته غوږ ونیسی. په دې موضوع ګانو او برخو کې به ضمنی توګه دا اشاره هم شویده چې د غوږ نیولو نه سوا دا هم چې په هغوی باندې عمل هم وکړو.

یشعیاه **۵۵**: **۳** "خپل غوږونه خلاص کړی او ماته راشی."

مکاشفه **۳**: **۱۳** "هغه څوک چې د آوریدلو غوږونه لری، هغه دې واؤری چې روح القدس جماعتونو ته څه وائی."

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۱- فرض کړی چې تاسو یو پلار یی. او ستاسو زوی په منډو تاسو ته د مرستی لپاره رامنډی وهی او خپل تکلیفونه تاسو ته وایی، خو هر څه چې وایې هغې ته بلکل غوږ نه نیسی. تاسو په دې وخت کې غواړی چې د هغه سره مرسته وکړی خو مخکی له دې چې تاسو هغه ته څه ووایی هغه بیرته تاسو نه ځغلی. نو تاسو په دې موقع کې د

څه احساس کوی؟ تاسو بیا څه کوی؟ آیا ستاسو دعا هم دا رنګ ده؟ په دې هکله د خدای سره خبری وکړې.

## تاسو سره خدای څنګه خبری کوی؟

خدای په مختلفو طریقو خپل ځان ښکاره کوی. د انسانانو سره خبری کوی او هغوی ته د خپل ذات د پیژندلو امکانات وربخښی. دا نړۍ او طبیعت چې د هغه په وسیله منځ ته راغلی د هغه د حکمت، قدرت او نیکۍ یوه برخه څرګنده وی. هغه زمونږ د حفاظت لپاره خپل محبت د کلیسا او د هغې د خادمانو په وسیله څرګندوی او هغه مونږ سره د هغوی په وسیله خبری کوی. هغه کله کله د رویا ګانو، خوبونو، او پیغامونو په وسیله چې د روح القدس لخوا الهامیږی، مونږ سره خبری کوی. زمونږ لپاره هغه نصیحتونه او تشویقونه چې د نورو مسیحیانو څخه یی حاصلوو او همدارنګه تاریخی واقعات او ورځنی ژوند چې د هغه د غږ لپاره یوه وسیله ده. په همدې ترتیب کولای شو چې د هغه آواز چې زمونږ د وجدان او فکر سره یی د خپل روح په وسیله کوی واورو. هغه خپل فکرونه زمونږ په ذهن کې القا کوی او په مقدس کلام کې هم لیکل شوی دي چې هغه زمونږ سره خبری کوی.

یشعیاه ۳۰: ۲۱ "ستا غوږونه به ستا له شا نه یو غږ
واوری چې وایی به چې لار دا ده او په هغې رفتار وکړه هر
کله چې ته ښی او یا کیڼ خوا ته ګرځی."
متی ۳: ۱۷ "او ګوری، د آسمان نه دا آواز راغے چې دا زما
خوږ زوی دی چې په ما ګران دی او زه ترې رضا یم."
اعمال ۲: ۱۷ "خدای فرمائی چې په آخری ورځو کې به
داسې کیږی چې زه به خپل روح په هر یو کس نازلوم او
ستاسو زامن او لوڼه به نبوت کوی، ستاسو ځوانان به رویا
په سترګو وینی او بداګان به خوبونه."
باید چې په دې خبره باندې فکر وکړو چې هره خبره زمونږ
په ذهن کې ګرځی د خدای لخوا نه نده. او همدارنګه ټولې
رویا ګانی او خوبونه هم د خدای لخوا نه، نه دي. په دې
فکرونو او خوبونو کې ځنی زمونږ فکر او ذهن ئې خپله
خلق کوی. او ځینی خوبونه د معاشری مختلف تاثیرات
دی چې زمونږ په ضمیر کې جمع شوی وی، مګر ځینی
وخت خدای د خوبونو او رویاګانو له همدې طریقی څخه
استفاده کوی او مونږ سره خبری کوی.

ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۲- فرض کړئ چې ستاسو یو ملګری د خدای په حضور کې ناست دی او غواړي چې هغه د یو خاص کار لپاره یو ښار ته لاړ شي او که نه. هر کله چې د دې کار په هکله فکر کوي، نو نا آرامي احساس کوي. نو خدای به هغه ته څه جواب ورکوي؟ په پورتنیو آیاتونو کې کوم یو د دې حکم عکاسي کوي؟

## څنګه کولای شو چې د خدای غږ واورو؟

هر کله چې د خدای سره د یوې موضوع په باره کې خبرې کوئ، نو صبر وکړئ چې هغه هم تاسو سره خبر وکړي او هغه جواب چې هغه تاسو ته درکوي غوږ ورته ونیسئ. خدای سره پس د یوې موضوع د مطرح کولو نه، لمړی فکر چې ستاسو په ذهن کې تیر شي هغه ته په خاصه توګه توجه وکړئ. غالب ګمان کیږي چې دا فکر به د خدای لخوا وي. امکان لري چې هغه به د مقدس کتاب نه کلمې یا آیاتونه وي چې ستاسو د موضوع سره به ارتباط لري. کیدای شي چې د خپل مشکل په ارتباط چې د خدای حضور ته مو پیشنهاد او دعا وکړه خاص تسلي او آرام

حاصل کړی. خدای تاسو ته دا یقین درکوی چې هغه ستاسو دعا آوریدلی ده او ستاسو مشکلات به حل کړی. د هغه شکر ادا کړی او د هغه په حضور کې خاموشی اختیار کړی تر څو هغه تاسو ته ستاسو کار چې تاسو یې په دې هکله سرته ورسوی در وښایی.

د خدای د کلام د مطالعه کولو په وخت کې دعا کوی، او د خدای غږ ته هم غوږ نیسی. هر کله چې ستاسو د مقدس کتاب د روزانه مطالعې وخت رارسیږی او یا د دعا وخت راشی، نو د دې عالی کتاب ځینی یوه برخه مطالعه کړی. ډیر وخت داسې کیږی چې د دې مطالعی په وخت کې یا د کتاب په حاشیو او حوالو کې د خپل مشکل په اړوند آیات او جواب پیدا کړی. د خدای نه وغواړی چې د خپل کلام په وسیله تاسو سره خبری وکړی. کله د عمیقی مطالعې په وسیله په هغه وخت کې یو آیات د یو موضوع په هکله د پیغام په شکل تاسو ته څرګندیږی. په ځینی موضوع ګانو کې کیدای شی چې دا آیات تاسو پورې په شخصی توګه اړه ولری او یا دا چې خدای غواړی چې دا آیات د نورو خلکو سره مطرح کړی او هغوی په دې برکت کې شامل کړی. تاسو کولای شی چې ځینې افکار او ایډیالوژی چې تاسو ته د خدای له طرفه درکول کیږی هغه ولیکی. همیشه د هغوی په باره کې فکر وکړی. خدای به تاسو د خپل شاهد او ویاند په توګه استعمال کړی.

لکه څنګه چې په مقدس کتاب کې اشاره شوی ده، نو هماغه رنګ د خدای کلام زمونږ کامیابه سرچینه ده. د خدای خبری به هیڅکله د هغه د لیکل شوی کلام سره کوم تضاد ونلری. هر هغه مطلب چې د خدای لخوا دی، باید چې د مقدس کتاب د تعلیماتو سره وسنجول شی. دا کار به له مونږ سره مرسته وکړی تر څو مونږ د خپلو فکرونو او د خدای د پیغام تر منځ صحیح تشخیص او فرق وکولای شو. د بالغه مسیحیانو سره مصلحت او مشوره کولای شی چې د خدای د ارادی په پیژندلو کې له مونږ سره مرسته وکړی. هغه خلک چې په واعظ او د خدای د کلام په تعلیم او تفسیر کې زیاته تجربه لری، لویه مرسته به وی. مونږ د یو بل مرستی ته ضرورت لرو. خدای چې ډیر کله مونږ ته په شخصی ډول خپل کلام راکړی نو د نورو د وعظ، شهادت، نصیحت په وسیله هغه تائیدوی. په مقدس کتاب کې د دې نمونو غوندې ډیری لیدل کیږی. د عیسی رسولانو هم د خدای د هدایت په هکله د یو بل سره مشوره کوله او هر کله به چې ئې د خدای لخوا کامل اطمینان نه وو حاصل کړی، هیڅ کار به ئې نه کاوه.

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۳- د هغه دوه اصلي طریقو چې خدای د دعا په وخت کې د هغوی په وسیله زمونږ سره خبری کوی ذکر وکړئ:
۴- هغه آخری مرجعی چې مونږ باید د هغه په وسیله د خدای پیغام او مکاشفه و آزمایو څه ده؟

## لکه څنګه چې خدای فرمایی هماغه شان عمل وکړه

دا ډیره مهمه ده چې د خدای د آواز د اوریدو څخه وروسته هماغه شان د هغه د احکامو په مطابق رفتار وکړو. صرف په هغه وخت کې خدای کولای شی چې زمونږ د ژوند مالک او رهبر اوسی په کوم وخت کې چې مونږ د هغه څخه اطاعت وکړو. د عیسی خبری په خپل فکر کې نیول او د هغوی سر ته رسولو په وسیله د هغه احترام کوو. عیسی وویل:
لوقا ۶: ۴۶ "تاسو ما ته ولی مالک مالک وایئ او هغه کار کله هم نه کوئ چې زه ئې درته وایم؟"

مقدس کتاب په دې خبره باندې تاکید کوی چې د خدای په حضور کې اطمینان لرل او د هغه څخه د دعا د جواب طمعه، نو باید دوه نکتې مراعت کړو.

۱- په مالک عیسی مسیح باندې ایمان لرل.

۲- د ټولو خلکو لپاره مینه لرل.

اول یوحنا ۳: ۱۹- ۲۴ "هم دغه شان به مونږ پوهه شو چې مونږ د حقیقت یو، او د خدای په مخکې دا باور لرو که زمونږ زړۀ مونږ ملامتوی نو هم خدای زمونږ د زړۀ نه ډیر لوی دی او له هر څه نه خبر دی خوږو دوستانو! که چیری زمونږ زړۀ مونږ نه ملامتوی، نو بیا مونږ د خدای په مخکې باور لرو. او څه چې ترې غواړو هغه ئې راکوی، ځکه چې مونږ د هغۀ په حکمونو عمل کوو او څه چې هغه خوښوی هم هغسی کوو. دا د هغۀ حکم دی چې د هغۀ د زوی عیسی مسیح په نوم ایمان راوړو او د هغۀ د حکم په مطابق د یو بل سره مینه ولرو. هر څوک چې د خدای په حکمونو عمل کوی، نو هغه په خدای کې قائم وی او خدای په هغۀ کې. او هم دغه شان مونږ کې اوسیږی چې په مونږ ئې نازل کړی دی.

مقدس کتاب په خپل ټول تعلیم کې د خدای له طرفه زمونږ د سلوک انداز مونږ ته وړاندې کوی. روح القدس د دې تعلیم استعمال په مختلفو موقعو کې رازده کوی. هغه، هغه کلام چې ورته ضرورت لرو په خاصو لحظو کې مونږ ته رایادوی. د دې کلام په یادولو سره امکان لری چې

د هغه ورځی د تیاری لپاره چې د هغه سره به یوه ورځ مخ کیږی خاص اهمیت ولری. مونږ سره خدای خبری کوی او د هغه د آواز اوریدل یو خاص امتیاز دی چې مونږ ته رابخښل شوی دی. د هغه د آواز د اوریدو په وخت خاص احکام او دستورونه به حاصل کړو.
راځئ چې د خدای د اوامرو په مطابق عمل وکړو، امکان لری چې هغه د یو خاص مضمون څخه ډک اوسی.
"صابره اوسه په ما تکیه وکړه، زه به د هغه ترتیب درکړم." یا دا چې "د خپل میړه تند خوی وبخښه او هغه هیر کړ. هغه خوراک چې د هغه خوښیږی ورته پوخ کړه او هغه ته دا ښکاره کړه چې ته هغه سره مینه لری." "هغه بحث او مباحثه چې د خپل ګاونډی سره دې درلوده، هغه ته ورشه او د هغه نه معافی وغواړه." که څه هم چې ډیر غواړم چې تا ته برکت درکړم ولی ستا قرض د دې برکت څخه ممانعت کوی. که چیری ته غواړی چې ما ته جلال راکړی، نو د خپل قرض د ادا کولو په وسیله دا کار وکړه." "خپل ترۀ ته ووایه چې زه د هغه سره مینه لرم او د تکلیفونو په وخت کې به د هغه سره مرسته وکړم." "د هغوی کورنۍ ډوډۍ لپاره راوغواړه او د هغه محبت په هکله چې زه ئې د هغوی لپاره لرم هغوی سره خبری وکړه."
د خدای د آواز د اوریدو څخه وروسته او یا هغه مثال چې کوم دلته بیان شو، په تدریج سره د هغه د آواز تشخیص د نورو خلکو لپاره به لږ آسانه شی. لکه د خدای د زامنو په

شان باید هره مسئله دهغه په حضور کې پیش کړو او د هغه څخه هدایت وغواړو.

زړورتیا او تواضع د خدای د حکمونو د متابعت لپاره دوه اساسی اصله او بنیادونه دي. مونږ مخکې دې خبری ته اشاره وکړه چې د خپلو افکارو د نظم او ترتیبولو لپاره د خدای د پیغام څخه، نو کولای شوی چې د مقدس کتاب څخه مرسته حاصله کړو. د بالغو مسیحیانو سره مشوره او دعا کولو لکه د کلیسا د غړو سره یعنی د شپون او یا د نورو روحانی مشرانو سره کیدای شی چې د خدای د ارادی په پیژندلو کې هغوی هم لویه مرسته وکولای شی. باید په عاجزی سره د نورو نصیحت واورو او که چیری متوجو شو چې غلطی مو کړی نو باید سمدلاسه خپل ځان اصلاح کړو. خدای غواړی چې مونږ په خپل کور او کلیسا کې په یو زړه، یوالی او یوې رای سره خدمت وکړو. خدای کله د یو کار آخر نه معلوموی هغه مونږ قدم په قدم رهنمائې کوی. مونږ باید اول خپل ځان د هغه د احکامو د فرمانبرداری لپاره تیار او چمتو کړو نو پس لدې به هغه یو مناسب وخت د هغوی د عملی کولو لپاره راکړی.

سربیره پردې د دعا په وخت کې د خدای آواز ته غوږ کیږدی. خبری کول، هغه خوندور کار دی چې په هر وخت او هر ځای کې ئې سر ته رسولای شی. د خدای د حکمونو څخه د فرمانبرداری په وسیله به په خپل ژوند کې

حیرانونکی ترقی وکړی او تاسو به د خپلو دعا ګانو د جواب په نتیجه کې خدای مشاهده کړی.

## ستاسو کار
**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی**

**۵**- تاسو په خپله کتابچه کې هغه شی ولیکی چې خدای د لاندې عواملو په وسیله تاسو ته فرمایلی دي:

الف- طبیعت ب- مقدس کتاب ج- فکر

**۶**- اوس دعا وکړی او د خدای آواز ته غوږ ونیسی هر هغه څه چې تاسو واوری هغه ولیکی. څنګه چې خدای تاسو ته فرمایی هغه شان عمل وکړی.

## خپل جوابونه مقایسه کړئ

۱- کیدای شی چې ښه احساس ونلری داسې نه ده؟ خپل زوی ته به غږ وکړی، "یوه دقیقه صبر وکړه! ماته غوږ ونیسه!
زه څنګه کولای شم چې له تا سره مرسته وکړم په هغه وخت کې چې ته غوږ نه نیسی؟" کیدای شی چې د غلطی دعا په سبب او په تیزه تیزه تلل د ټولو د اوږو بار جوړ شوی وی.

۲- په احتمالی حالت کې "مه ځه" خدای اکثره هغه څه چې د هغه د ارادی په مطابق وی زمونږ ته اطمینان رابښی او هر کله چې کوم کار د هغه د ارادی په مطابق نه وی نو په هغه وخت کې مونږ د نارامی احساس کوو دا موضوع په یشعیاه ۳۰: ۲۱ کې ښه تشریح او تصور شوی ده.

۳- د فکرونو په وسیله هغه وخت چې خپل فکر زمونږ په ذهن کې القا کوی او د هغه شی په وسیله چې په مقدس کتاب کې دي.
۴- مقدس کتاب.
۵- ستاسو خپل جواب.

۲- ستاسو خپل جواب. دا لوست به تاسو سره مرسته کوی یعنی هغه حقیقتونه چې تاسو حاصل کړی دي عملی بڼه ورکړی. خدای دې تاسو ته په دې کار کې برکت درکړی.

# ځلوم لوست

## د دعا په وخت کې د خدای د کلام څخه استفاده وکړی

- مقدس کتاب د لارښود په صفت استعمال کړی.
- د مقدس کتاب په مرستې خپل ایمان قوی کړی.
- د دعا په وخت د مقدس کتاب آیاتونه استعمال کړی.
- د خپل ایمان په مطابق چې د خدای په وعدو ئې لری عمل وکړی.

دا درس به تاسو سره مرسته وکړی تر څو....

د خپلو دعا ګانو په وخت کې د خدای وعدو څخه کار واخلی او د هغه د وعدو په وسیله خپل ایمان قوی کړی. او په نتیجه کې د خدای د وعدو عجیبه کارونه چې ستاسو لپاره سرته رسیږی هغه مشاهده کړی.

## مقدس کتاب د لارښود په صفت استعمال کړی

مونږ ته عیسی یو قوی فرمول د خپل راز څخه راکړ تر څو د هغې په وسیله ناممکنه شیان امکان لرونکی کړو.

راځي چې دا فرمول زده او حفظ ئې کړو او د هغه د استعمال ځای هم وپیژنو.
یوحنا ۱۵ : ۷ "که تاسو په ما کې اوسی او زما خبری په تاسو کې اوسی نو چې تاسو څۀ غواړی د هغې خواهش کوی او زه به ئې درکوم."
مونږ ته دا د قدر وړ وعده درس راکوی چې زمونږ په خپل ژوند کې د دعا جواب مستقیماً د خدای د کلام د لوستلو په میزان او اهمیت پورې اړه پیدا کوی. مونږ باید د خدای په کلام باندې فکر وکړو او هغه فکرونو ته اجازه ورکړو چې مونږ په خپل ورځنی ژوند کې هدایت کوی. د مقدس کتاب د تعلیم او تدریس نه دعا د طریقی څخه باید پیروی وکړو او د خدای نه وغواړو چې د دعا په وخت کې د خپل کلام په وسیله مونږ سره خبری وکړی. د نورو سره دعا کول، او د خدای کلام لوستل او د هغه مطالعه په هکله خبری وکړی، نو د خدای حضور را ته نور هم زیات رښتینی ګرځوی. خدای خپل پیغام زمونږ د ضرورتونو په مطابق راوباښه او د دعا طریقه د کورنی سره، اجتماع او د نړی سره مونږ ته را زده کوی.
مقدس کتاب زمونږ په ژوند کې د خدای اراده ظاهر او تعلیم راکوی چې د هغۀ د ارادی د پوره کولو لپاره دعا وکړو. مونږ باید د خدای د جلال لپاره او د نورو خلکو د نیکی لپاره دعا وکړو او صرف د خپلو خواستونو د تشخیص او لذتونو په فکر کې باید نشو.

یعقوب ۴: ۲-۳ "تاسو چې د کوم څیز خواهش کوئ، خو تاسو ته په لاس نه درځی، ځکه خون کوئ او کینه لرئ خو هیڅ حاصلولی نهٔ شئ. تاسو نښلئ، جنګیږئ، خو تاسو تا ځکه نه ملاویږی چې له خدای نه ئې نه غواړئ. تاسو ئی غواړئ او مومئ ئې نه، دا ځکه چې په بد نیت ئې غواړئ، چې په خپل عیش او عشرت ئې ولګوئ."

متی ۲۲: ۴۱ "بیدار شئ! او دعا وکړئ چې تاسو په لمسون کې پرې نه وزئ. روح خو تیار دی خو وجود کمزوری دی."

زبور ۵۱: ۱، ۱۰ "ای خدایه لکه چې ستا مهربانی ده په ما باندې فضل وکړه. لکه چې ستا رحمتونه ډیر دي هومره زما ګناهونه محوه کړه."

" ای خدایه په ما کې پاک زړه پیدا کړه او نیک روح زما په باطن کې تازه کړه."

متی ۲۲: ۳۹ "هغه یو څو قدمه لاړو، پرمخی پریوتو او دا دعا ئې وکړه زما پلاره! که کیدی شی، نو دا پیاله را نه تیره کړه، خو داسې نه لکه چې ئې زه غواړم بلکه داسې لکه چې ستا رضا ده."

سربیره پردې که چیری غواړو چې زمونږ دعا میوه داره شی نو باید خپل زړه د خدای د کلام څخه ډک کړو. راځی چې د خدای کلام تلاوت کړو. او د هغې په هکله فکر وکړو. او هغه په خپل ذهن کې ځای کړو او د هغه په هکله خبری اتری وکړو. خدای زمونږ خواستونو ته شکل ورکوی

او په دعا کې به مونږ هدایت کړی. که چیری د کلام په مونږ کې ساکن شی کولای شو چې دعا وکړو او د هغې جواب هم د خدای لخوا نه ومومو.

## ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی.**

۱- پخپله کتابچه کې یوحنا **۱۵ : ۷** ولیکی. فکر وکړی چې د عیسی د دې جملی څخه مطلب څه وه چې "او زما خبری په تاسو کې اوسی؟"
**۲**- تاسو ته مقدس کتاب په دعا کې څنګه لار ښودنه کوی؟

## د مقدس کتاب د مرستی په وسیله خپل ایمان مضبوط کړی

آیا تر اوسه پورې تاسو دا ویلی دي چې: "کاشکی چې ما ډیر ایمان درلود؟" یا دا چې "زه بلکل ایمان نلرم؟" تاسو بلکل په یقین سره ایمان لری ځکه چې ایمان یا باور په یو رښتینی شخص او یا په یو شی. تاسو داسې باور او ایمان لری.

مونږ کولای شو چې ووایو چې زمونږ د ټولو اعمالو محرک ایمان دی. مونږ دا باور لرو چې خوراک خورو نو هغه زمونږ وجود ته تقویت وربخښی. د پوستی په سیستم ایمان لرو نو خپل خطونه د پوستی د لاری لیږو. د یو ملګری په خبره باندې ایمان لرل د دې سبب کیږی چې په مقرر شوی وخت هغه ته ځان حاضر کړو. او په خدای او د هغه په وعدو باندې ایمان د دې باعث کیږی چې په یقین سره د خپلو دعا ګانو جواب د هغه حضور ته عرض کړو.

عبرانیان ۱۱ : ۱ "پس ایمان دا دی چې په هغه څیزونو باور وکړو چې پرې امید لرو، او د نالیدلو څیزونو ثبوت دی."

خدای په خپله هغه ایمان چې د هغه وعدی سرته رسول په کې شامل وی زمونږ په زړونو کې ورته ځای ورکوی. هغه د خپل کلام په وسیله زمونږ ایمان ته قوت وربخښی. مونږ هم باید په دې کار کې د هغه سره مرسته وکړو. د عجیبه اعمالو او کارونو په لوستلو سره هغه زمونږ ایمان ته وده ورکوی. د خدای د کلام د حقیقتونو په هکله د نورو خلکو سره خبری کوی. زمونږ ایمان نور هم قوی کیږی. مونږ چې د خدای د محبت په هکله فکر وکړو مونږ هم دا باور حاصلو یعنی دا چې هغه چې کوم کارونه د مقدس کتاب په وخت او زمانه کې سر ته رسولی دي، نن ورځ به ئې هم زمونږ لپاره سر ته ورسوی. د هغه د وعدو د لوستلو په وسیله به هغوی باندې باور کوو. چې په ایمان سره دعا وکړو او ضرور ئې جواب ومومو.

عبرانیان ۱۲: ۲ "او د ایمان بانی او کاملوونکی عیسی ته وګورو چې د هغې خوشحالۍ په ځای چې د هغهٔ د نظر د وړاندی وه، د شرمنګۍ پرواه ئې ونه کړه خو د سولۍ تکلیف ئې وزغملو او د خدای د تخت په ښی لاس کښیناستو."

رومیان ۱۲: ۳ "د هغه فضل د مخه کوم چې ما ته راکړی شوی دی، زه په تاسو کې هر چاته دا وایم چې څرنګه چې ځان ګڼل په کار دي، د هغې نه زیات څوک ځان ونهٔ ګڼي بلکه دا چې څرنګه چې خدای هر چا ته د یوې اندازی په مطابق ایمان ورکړی دی، هغه دې هم خپل ځان هغومره وګڼي."

رومیان ۱۰: ۱۷ "او ایمان د زیری په آوریدلو پیدا کیږی او آوریدل د مسیح په باب کې د زیری ورکولو نه."

د رومیانو ۱۰: ۱۷ نه دا خبره معلومیږی چې صرف لوستل او فکر کول د مقدس کتاب په هکله کافی ندی. د خدای د کلام وعظ اوریدل هم ستاسو ایمان قوی کوی. سربیره پر دې د کلیسا په جلسو کې شرکت او تر اخری حده پورې روحانی وعظونو ته غوږ ونیسو. وعظونه، سندری او د عیسی په هکله شهادت ورکول زمونږ ایمان نور هم قوی کوی. دا امکان لری چې ټولو خبرو باندې پوهه نشو، خو په دې باندې پوهیږو چې خدای زمونږ د ایمان په وسیله کار کوی. زمونږ بې ایمانی د هغه لپاره به

آسانه وی چې د خپلو دعا ګانو په هکله عجیبه کارونه وکړو.
متی ۱۳: **۵۸** "**هغه هلته زیاتی معجزی ښکاره نهٔ کړی ځکه چې د هغوی ایمان نه وو.**"
مرقوس ۹: ۲۰، ۲۲ "نو بیا یوه ښځه چې د دولسو کالو راسی ئې وینه نه بندیده، د شا د طرفه راغله او هغه ئې د لمنی نه ونیولو ... خو عیسی مخ وروارړوو او هغه یې ولیده او ورته ئې وویل زما لوری! خاطر جمع کړه، ستا عقیدی ته روغه کړی."
متی ۹: ۲۸- ۲۹ "او څه وخت چې هغه کور ته دننه شو نو هغوی ورله راغلل او عیسی تپوس تري وکړو، آیا ستاسو دا یقین دی چې زه دا طاقت لرم چې تاسو چې څه غواړۍ هغه زه کولی شم؟ هغوی وویل چې هو مالکه! بیا هغهٔ د هغوی سترګو له لاس وروړو او وئې ویل چې: ځنګه چې ستاسو عقیده ده، دغسی دې وشی."

ستاسو کار
هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوۍ

۳- هغه مثال بیان کړۍ چې دا ښکاره کړی چې هر څوک څومره ایمان لری.

**۴**- د عبرانیانو ۱۲: ۲ او رومیانو ۱۲: ۳ آیاتونو په مطابق زمونږ په خدای او د هغه په وعدو باندې ایمان له کومه پیدا کیږی؟

**۵**- د رومیانو ۱۰: ۱۷ په مطابق ایمان له څه نه حاصلیږی؟ دا آیات تاسو ته کوم پیشنهاد وړاندې کوی چې زیات په هغې باندې کار وکړی؟

د دعا په وخت کې د مقدس کتاب د آیاتونو څخه کار واخلی! د خدای وعدی د هغه خپلو زامنو ته د بانک د چکونو او حوالو په شان دي لکه څنګه چې آسمانی بانګ ته د قبلولو وړ دي. مونږ کولای شو چې هغه د مقدس کتاب آسمانی بانک څخه حاصل او د اجرا کولو لپاره وړاندې کړو څکه چې د خدای د بانک حساب همیشه د ټولو لپاره قابل اعتبار او معتبر دی. نو باید د دعا په وخت کې دا آیات استعمال کړو او باور او اطمینان ولرو چې خدای د خپل زوی دستخط ډیر د قدر وړ ګڼی.

| | |
|---|---|
| د دې چک په حساب | ټول ضرورتونه |
| حواله | هر یو ایماندار |
| حواله دې شی | ................... |
| د بانک د حساب نمره | فیلپیان ۴: ۱۹ |
| امضا | عیسی مسیح |

د خدای کلام د ټولو هغه وعدو څخه ډک دی چې کولای شو خپل ټول روحانی او جسمانی احتیاجات ور څخه پوره کړو.
لکه څنګه چې عیسی مسیح ټول خلک عوض کړل او هغوی ته ئې خوراک او شفا ورکړه، نو مونږ هم باور لرو چې هغه به زمونږ د ضروریاتو په هکله فکر کوی. د هغه ټولی وعدی د غم په وخت کې تسلی، په ځانګړتیا کې ملګرتوب او د ګناه په مقابل کې بخښنه، او د بدو او سختو عادتونو او د نورو احتیاجاتو د پوره کولو لپاره کافی دي.
فیلپیان ۴: ۱۹ "زما خدای به ستاسو هر حاجت د خپل بې پایانه دولت په مطابق د مسیح عیسی په وسیله پوره کړی."
زمونږ لپاره داؤد پادشاه یعنی زمونږ د تګ لاره او مثال چې د طبیعت له نظره عیسی مسیح هم د ده په کورنۍ کې وزیږید ، یو ښه مثال دی نو څنګه او په کومه طریقه کولای شو چې د خدای وعدی په خپلو دعاګانو کې استعمال او یادی کړو.
دویم سموئیل ۷: ۲۵ ، ۲۷ ، ۲۹ ، "ای خدایه هغه څه چې دې زما او زما د کورنۍ په هکله وعده کړی ده سر ته ورسوه ... ای قادر مطلق خدایه! ای د اسرائیلو خدایه! تا ما سره وعده کړی ده چې زما کورنۍ به تر ابده پورې ستا په قوم باندې بادشاهی وکړی. نو په هم دې سبب سره مې

دومره زړه وکړ چې داسې دعا ستا په حضور کې وړاندې کړم. نو هیله کوم لکه څنګه چې دې وعده کړیده هماغسی عمل وکړی او زما کورنۍ ته برکت ورکړه، او چې زما کورنۍ ستا په حضور کې تر ابده پورې قایمه پاتی شی او ستا برکت دې تر ابده پورې زما په کورنۍ باندې وی."

تاسو کولای شی چې دا دعا د خپلې کورنۍ د هر یو غړی لپاره چې تر اوسه پورې یې په عیسی مسیح باندې ایمان نه دی راوړی او د خپل خلاصونکی په حیث ئې نه دی قبول کړی تکرار کړی.

پلاره زه ستا شکر ګذار یم چې ته .... (د هغه چا نوم) چې تر اوسه تا نه پیژنی، خوښوی. په اعمالو ۱۲: ۳۱ کې تا درواغه ته وویل: "په مالک عیسی باندې ایمان راؤړه او ته او ستا کورنۍ به خلاصون ومومی." زه په عیسی مسیح مالک باندې ایمان لرم او خواست کوم چې زه او زما ټوله کورنۍ خلاصون ومومی. ستا نه هیله کوم چې .... مرسته وکړه تر څو په عیسی باندې ایمان راوړی. زما نه کار واخله تر څو د هغوی سره مرسته وکړم. زما کردار او سلوک کې زما لار ښودنه مرسته وکړه. د دې دعا د جواب لپاره شکر ګذار یم. زه پوهیږم چې کوم کار دې د بندیانو د مسئولینو لپاره سر ته ورساوه زما لپاره به ئې هم سر ته ورسوی. او د همدې لپاره ستا شکر ګذار یم. د عیسی مسیح په نوم آمین.

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

۶- په خپلو کتابچو کې په یوه صفحه کې د دې مثال په شان "د آسمانی بانک" یو چک ولیکی.
کوم چې مو پدې لوست کې ولوستل. او د حوالی تر خوا خپل نوم ولیکی. پس له هغې خپل هغه ضرورتونه چې خدای ستاسو لپاره پوره کړی. د پیسو د اجرا په ځای کې ولیکی.
فیلپیان ۴: ۱۹ ولولی او د خدای سره د خپلو احتیاجاتو په هکله خبری وکړی.
۷- که چیری تر اوسه پورې ستاسو کورنی کې چا په عیسی باندې ایمان نه وی راوړی د اعمالو ۱۶: ۳۱ په مطابق د هغوی نوم ولیکی.
۸- فیلپیان ۴: ۱۹ حفظ کړی. کوشش وکړی چې هغه په خپلو دعا ګانو کې ذکر کړی. آیا دا حکم ستاسو احساس او باور د دعا د جواب په هکله نور هم قوی کوی؟

د هغه ایمان په مطابق چې د خدای په وعدو ئې لری عمل وکړی.

## د خپلو جوابونو د حاصلولو لپاره چمتو اوسئ

د مقدس کتاب د یو مکتب مدیر او د هغه ښځې د یو څو غواګانو لپاره دعا کوله تر څو هغوی د شاګردانو د احتیاج په مطابق شدی ولری. هغوی د غواګانو د څرولو لپاره ډیر ځای درلود. خو د غوجل د تعمیرولو ضرورت ئې هم درلود. خدای د هغوی د فکر په وسیله ورسره خبری وکړلی. "هغه غواګانی چې ورته دعا کوی چیرته به ئې ودروی؟ که چیری په ربښتیا سره د دعا انتظار کوئ، نو غوجل او کوټې ورته جوړی کړی." نو بیا پس له هغې نه ئې د هغوی لپاره د ودریدو ځای تیار کړ، او د ودانی د آبادولو نه یو څو ورځی وروسته خدای هغوی ته غواګانی ورکړی. یو مریض چې د ډیر وخت څخه د خپل کټ څخه نه ؤ پاڅیدلی، نو دا تصمیم ئې ونیوه چې د کلیسا د مشر نه د خپلی شفا لپاره دعا وغواړی او هغه ته ورشی هغه خپلی ښځی ته وویل "چې زما جامی تیاری کړه ځکه چې پس له دعا نه به شفا ومومم." نو بیا هم داسې وشول. آیا تاسو هم چې د هغه شی لپاره چې مو دعا کړیده او خدای ئې هم تاسو سره وعده کړیده، نو د جوړلو ځای لری؟ خپله برخه کار شروع کړی، نو باور ولری چې خدای به هم خپله برخه کار وکړی او ایمان ولری چې جواب په لاره کې دی.

فرض کړی چې تاسو فقیران، بیکاره، او قرضدار یی. پس له هغې ستاسو یو مالدار ملګری راشی او تاسو ته وائې چې زه به ستاسو ټول قرضونه ادا کړم او یو ښه کار به هم تاسو ته درکړم. هغه تاسو ته یو بانکی چک درکړی چې د هغه په وسیله خوراک او لباس د خپل ځان لپاره تیار کړی. آیا تاسو به هغه مالدار سړی ته داسې ووایی چې "اجازه راکړه دا ټولی وعدی خو ډیری اوچتی ښکاری، خو زه باید ووینم چې آیا دا چک د اعتبار وړ دی او که نه. هر کله چې هغه نغد کړم، نو بیا به د هر کار نه هیڅکله هم داسې نه وایی. زه یقین لرم چې تاسو به په خوشحالی سره د هغه په خبرو باور وکړی، نو په کومو کلیمو به د هغه د ښیګڼو شکر ګذاری وکړی؟ هغه زمونږ د هغه ایمان څخه چې د دعا د جواب څخه مخکې د هغه شکر ادا کړو ډیر زیات خوشحالیږی. راځی چې اوس د خپلو دعاګانو د جوابونو لپاره د خدای شکر ګذاری وکړو.

مرقوس ۱۱: ۲۴ "ځکه زه تاسو ته وایم چې د هر څه لپاره چه تاسو دعا یا سوال کوی نو په دې یقین ولری چې دا تاسو حاصل کړو، نو ستاسو به شی."

یعقوب ۱: ۶ "خو سوال دې په ایمان سره کوی او هیڅ شک دې نه کوی ځکه چې شک کوونکی د سمندر د هغه

چپو په مثال دی کومی چې د هوا په زور ښکته او پورته کیږی."

## خپل ایمان وساتۍ

د ابراهیم قصه چې د عربو او د اسرائیلو نیکه دی مونږ ته دا تعلیم راکوی چې خپل ایمان حفظ کړو خدای ابراهیم ته وویل چې هغه به د ډیر ملتونو پلار شی. خو ابراهیم تر پنځویشتو کلونو لپاره نور هم زوی نه درلود.

رومیان ۴: ۱۹- ۲۱ "او د ایمان د څه کمزورۍ بغیر هغهٔ د خپل وجود لکه د مړی په شان کمزورۍ فکر ونهٔ کړو ځکه چې هغه خوا او شا د سلو کالو بوډا وو او ساره هم د زیږیدو لائقه نهٔ وه. خو بیا هم هغه د خدای په لوظ شکمن نه شو بلکه په ایمان کې مضبوط شو او د خدای ثنا ئې وویله او دا ئې پوره یقین وو چې خدای خپل کړی لوظ پوره کولی شی."

دا ابراهیم ژوند مونږ ته دا تعلیم راکوی چې هغه مشکلات او مسالی چې ورسره مخامخ یو باید چې په طبعی توګه په هغوی باندې فکر ونکړو هغه یو خوا ته وغورځو او د ایمان په نظر په هغې باندې فکر او نظر واچوو. راځی چې د خپلو مشکلاتو نه صرف نظر شو او خپله ټوله توجه د هغه وعدو ته ورکړو. هغه مشکلات او تکلیفونه چې ستاسو په لار کې دی د هغوی محدودیتونو

ته مه ګوري عیسی ته وګوری تر دې چې ټول کارونه ستاسو د خوښې په خلاف هم وی همیشه په خدای باور لری او د هغه شکر ادا کوی. هیڅ یو داسې مشکل او تکلیف به ستاسو د لاری خنډ نه وی چې د عیسی نه مو منع کړی. امکان لری چې هغه ستاسو تکلیفونو لری کړی او د خلاصون لاری تاسو ته وښایی او یا به هغه تاسو د هغی د مخې نه تیر کړی. غرونه نشی کولای چې هغه لپاره کوم تکلیف منځ ته راوړی.

متی ۲۱: ۲۱- ۲۲ "عیسی ورته جواب ورکړو چې زه تاسو ته دا وایم چې که چیری ستاسو ایمان کامل وی او شک نه کوی، نو تاسو به هم هغه څه وکړی کوم چې د اینځر په ونه وشول، بلکه لاد دې نه هم زیات. که تاسو تش دې غرۀ ته ووایی چې د دې خپل ځایه پورته شه او سمندر ته ګذار شه، نو څه چې تاسو وایی هغه به وشی. کومه دعا چې تاسو په ایمان وغواړی نو هغه به واړه قبوله شی."

## قبول ئې کړی او سرته ئې ورسوی

د ایمان نه وروسته د جوابونو حاصلولو باندې عمل کوو. هغه خلکو چې د بدو عادتونو پرېښودو لپاره دعا کړیده نو کولای شی چې د ایمان په وسیله هغه ناوړه کارونه لری وغورزوی. هغه خلک چې د خدای د خدمت ارزو او هیله

لری نو باید د دې مهم حکم لپاره د ایمان قدم اوچت کړی. نو په هماغه وخت به هغه خدمت شروع کړی نو په دې ترتیب د خدای وعده عملی کیږی دا د مقدس کتاب دستور هم دی.

یعقوب ۲: ۱۷- ۱۸ " دغه شان ایمان هم دی، که د دې سره عمل نه وی نو هغه ایمان مړ دی. بلکه څوک دا ویلی شی چې ته ایماندار یی او زه عمل کوونکی. ته خپل ایمان بغیر د عمل نه ما ته څرګند کړه او زه به خپل ایمان په عمل تا ته څرګند کړم."

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی**

۹- پدې لوست کې د خدای په وعدو باندې د عمل کولو لپاره د څلورو طریقو څخه کار اخستل شوی دی. هغه څلور طریقی کوم دي؟

۱۰- د دې څلورو طریقو څخه کومی د ایمان په بنیاد غواړی چې په صحیح او منظم ډول په خپل ژوند کې عملی کړی؟

۱۱- په خپله کتابچه کې هغه شیان ولیکئ د کومو لپاره مو چې دعا کړیده هغه وعده چې د هغې لپاره مدعیان

شوی یی او هم هغه ځلور طریقی ولیکۍ چې غواړی چې
هغه په خپل ژوند کې عملی کړۍ نو په واقعیت کې هغه
ستاسو د عمل هغه ګامونه دي چې د وعدو له اساس ځخه
ګټل کیږی او پس لدې کار ځخه هغه نتیجی هم ولیکۍ
کومې چې په لاس درشی.

## خپل جوابونه مقايسه کړئ

۱- يوحنا ۱۵: ۷ "که تاسو په ما کې اوسئ او زما خبرې په تاسو کې اوسي نو چې تاسو څه غواړئ د هغې خواهش کوئ او زه به ئې درکوم." "که چيرې زما خبرې په تاسو کې اوسي" يعنی چې د هغه څه چې زه تعليم درکوم او هغه ستاسو په ياد وی او په هغې باندې عمل وکړئ او يا درته هغه وخته پورې چې زما اطاعت کوی."

۲- تاسو ته وايي چې په کومه طريقه د خدای په حضور کې حاضر شئ او د څه د پاره دعا وکړئ. ذکر شوی دعاګانی په مقدس کتاب کې ستاسو لپاره مثالونه دي.

۳- تاسو امکان لرئ چې هغه خوراک چې خوری ذکر کړئ. يا هغه خطونه چې ليږو او يا هغه ځايونه چې د نورو خلکو لپاره ساتو.

۴- د عيسی څخه، د خدای څخه.

۵- د هغه پيغام نه چې د مسيح څخه اوريدل کيږی، د خدای د کلام څخه. دا حکم مونږ ته دا خواست کوی چې هميشه کليسا ته لاړ شو او يا هر ځای کې چې وخت پيدا کوو د انجيل وعظ ته غوږ ونيسو.

۶- ۸ ستاسو خپل جواب. اميد لرم چې د دې کارونو سر ته رسولو به تاسو سره مدد کړی وی.

۹- د جواب د حاصلولو لپاره چمتوالی، ايمان راوړل او د خدای شکر ادا کول، د ايمان ساتل، قبلول او سرته رسول.

۱۰- امید لرم چې پورته څلور واړه طریقې استعمال کړې.

۱۱- خدای دې تاسو ته د دې کارونو په پوره کولو کې برکت درکړي.

## پنځم لوست

### د دعا په وخت کې د نورو په هکله فکر وکړی

-
- د نورو د اختیاجاتو په هکله فکر او توجه وکړی
- خپلی کورنی ته دعا وکړی.
- د نورو لپاره دعا وکړی.
- د نورو د احتیاجاتو په پوره کولو کې اخلاص مند اوسی.

### دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی تر څو.....

- د نورو د احتیاجاتو په هکله فکر وکړی او په محبت او زړه سواندی سره هغوی ته دعا وکړی.
- د نورو خلکو د دعا د جواب د پیدا کولو په ارتباط، د خدای سره مرسته وکړی.

### د نورو احتیاجاتو باندې فکر وکړی

عیسی د خپل خوا او شا خلکو په باره کې او د هغوی د ضرورتونو په هکله ئې فکر کاوه. هغه د ټولو مریضانو سره همدردی ښودله. هغه فقیران، شړل شوی، ړانده او

شل قبلول. تر دې چې هغه به وعظ کاوه او ډیرو خلکو به د هغه خبرو ته غوږ نیوه. عیسی چې د دې نه خبر شو چې هغوی وږی دي شاګردانو ته ئې وویل چې هغوی ته خوراک تیار کړی.

د عیسی هغه محبت چې خلکو سره ئې د دې باعث شو چې د هغوی لپاره تکلیفونه وزغمی. او هغه به هم دا کار زمونږ لپاره کوی. هر کله چې د عیسی محبت په مونږ کې پیدا شی نو د هغه په سترګو به ګناهګارانو او د شیطان قربانیو، ګمراهانو او ټولو هغه کسانو ته چې ابدی هلاکت په لور روان دي وګورو. داسې محبت به د دې سبب شی چې لکه د عیسی په شان به د درد څخه په ډک زړهٔ دعا وکړو. هغه تر دې چې د سولۍ په وخت کې هم هغه چا چې هغه پورې خندل د هغوی د ضرروتونو او احتیاجاتو باندې فکر کاوه. د دې ټولو کارونو سره سره هغه چغه ووهله: عیسی ووئیل:
لوقا ۲۳: ۳۴ "پلاره! دوی معاف کړه! ځکه چې هغوی نه پوهیږی چې څه کوی...."
د مقدس کتاب په جملو کې په تکرار سره "عیسی په هغوی باندې رحم وکړ" او یا "زړه یی په هغوی وسوزیدو" خبری کوو. د زړه سواندی معنی دا ده: چې د نورو په تکلیفونو کې داسې شریکیدل چې د هغوی غم خپل غم وګڼو. د عیسی د دعا ګانو او اعمالو اصلی غایت هم دا

ؤ. د هغه معجزی هم په همدې زړه سواندی او محبت کې سر ته رسيدلی. او د خدای محبت د خلکو د ضرورتونو په پوره کيدلو کې ظاهريدلو.

متی ۱۴: ۱۴ "هغه چې غاړی ته راورسيدو نو يوه لويه ګڼه ئې وليده، زړۀ ئې پرې وسوزيدلو او چې څوک په کې رنځوران وو هغه ئې روغ کړل."

ځينی خلک په خپلو مشکلاتو او تکليفونو کې مصروف وی او د نورو په تکليفونو او تنګسياو فکر نکوی. ځينی خلک سره د دې چې د خپلو ګاونډيانو له تکاليف نه باخبره وی خو بيا هم د هغوی د تکليفونو په حل کې هيڅ دلچسپی نه اخلی. ډير خلک د حادثاتو په ليدلو، فقر او بدبختيو او ځينی نورو نه خوشحالونکو واقعاتو باندې خپل تندی لږ هم نه غونجوی، او د هغوی په نسبت هيڅ د زړه سواندی احساس هم نکوی. مونږ بايد چې دعا وکړو چې خدای مونږ د خپلو ګاونډيانو د مشکلاتو په ارتباط حساس کړی او د مالک د جواب په وخت مونږ هم بايد کوشش وکړو چې د خپلو ګاونډيانو د تکليفونو باندې غور وکړو او د خدای حضور ته ئې وړاندې کړو. او په همدغه وخت کې به خدای زمونږ زړونه د نورو خلکو لپاره د محبت نه ډک کړی لکه چې د عيسی د زړه سواندی په شان خپلو ګاونډيايو او د خوا او شا خلکو لپاره دعا وکړو.

د نورو خلکو په ضرورتونو کې همدردې کول او د هغوی په زحمتونو زړه سوزول د خدای لپاره د ښې او بهترې دعا سبب ګرځي. او د شفاعت په دعا نژدیوالي ښکاره کول د نورو خلکو لپاره او د خدای هغې ته د جواب ورکولو څخه زمونږ نور هم ایمان مضبوط او قوي کیږي.

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- په خپله کتابچه کې هغه ضرورتونه چې د همدې کتاب په انګلیسي ترجمه کې ذکر شوي دي ولیکئ. او د هغوی د هرې یوې تر خوا د هغه چا نوم ولیکئ چې تاسو پوهیږئ چې هغه د دې محتاج دي.
۲- د هغه ټولو کسانو د احتیاجاتو په باره کې فکر وکړئ چې په ۲۴ ساعتو کې هغوی وینئ او ورسره خبرې کوئ. په خپله کتابچه کې د هغه چا نومونه ولیکئ چې په خپل زړه کې د هغوی د ضرورتونو احساس کوئ.
۳- د خدای نه دعا وغواړئ چې ستاسو سره مرسته وکړي چې د نورو خلکو لپاره مینه ولرئ او د هغوی احتیاج لکه د خپل ځان د احتیاج وګڼئ او هغه خلکو لپاره په دلچسپۍ او ښه احساس سره دعا وکړئ چې تاسو ئې نوم په خپله کتابچه کې لیکلی دی.

## د خپلې کورنۍ لپاره دعا وکړۍ

په مقدس کتاب کې داسې ډير مثالونه شته چې خلکو د خپلو زامنو او د خپلې کورنۍ نورو غړو لپاره دعا کړيده. د ابراهيم دعا چې کله ئې خپل وراره لوط لپاره وکړه، .نو د سدوم د هلاکت او بربادی په وخت هغه د مرګ څخه د خلاصون سبب شو. همدارنګه خدای د دعا په وسیله د اسحاق د ښځې په باره کې د هغه سره مرسته وکړه. اسحاق د خپلې ښځې ربقې د مریضې لپاره دعا وکړه او هغې شفا وموندله. ربقې هم د خپلو بچو د پیدایښت نه وړاندې هغوی لپاره دعا وکړه او نوح د خدای نه د خپلو بچو په تربیت کې هدایت وغوښتلو. ایوب هر ورځ د خپلو زامنو لپاره د خدای نه سوال وکړ چې هغوی د ګناه نه وساتی او که چیری ګناه وکړی نو چې ئې وبخښی. والدینو به خپل اولاد د خدای کور ته بوتلل او هغوی به ئې خدای ته وقف کول ډیرو میندو به خپل ماشومان عیسی ته د برکت او شفا لپاره راوستل تر څو چې هغه، هغوی ته برکت ورکړی.

ټول مقدس کتاب کې دا ذکر شوی او دا خبره څرګنده شوی ده چې خدای غواړی چې ټوله کورنۍ په شریکه د هغه خدمت وکړی او په خپل کور کې د هغه د برکتونو څخه فیض حاصل کړی. نو که چیری ستاسو د کورنۍ یو

غړی هم عیسی د خپل خلاصونکی په حیث نه وی قبول کړی نو ستاسو مهمه دعا دا ده چې هغوی توبه وکړی نو د دې کار لپاره ستاسو د دعا ضرورت دی.

لاندې ښکلی آیات د دې خبری شاهد دی چې د ایمان په صورت کې تاسو د شیانو انتظار وکړئ.

اعمال ۱۶ : ۳۱ "هغوی وویل چې "په مالک عیسی باندې ایمان راوړه او ته او ستا کورنئ به خلاصون ومومی."

مونږ کولای شو چې دا آیات د خپلی کورنئ د خلاصون لپاره استعمال کړو. د دې خبری په یادولو سره چې خدای غواړی چې زمونږ ټوله کورنئ خلاصون حاصل کړی او په هغه ایمان راوړی نو زمونږ ایمان نور هم قوی کیږی. په ایمان سره به وکولای شو چې د هغوی خلاصون وغواړی.

حتی تر دې چې زمونږ د کورنئ غړی په سختی سره د انجیل مقابله کوی خو بیا هم مونږ باید د هغوی سره په محبت او مهربانی او صبر سره کار وکړو. شیطان نه غواړی چې زمونږ دوستان او کورنئ خلاصون پیدا کړی. کله داسې ښکاری چې هر څومره د هغوی لپاره دعا کوو خو بیا هم د انجیل او د خدای د کلام په نسبت هغوی نور هم سختیږی او ضدیت پیدا کوی. لاندې نکتی د اهمیت وړ دي:

۱- دعا ته ادامه ورکړی او په ایمان سره د خدای شکر ادا کړی.

۲- صابره اوسی.

**۳- خپل محبت هغوی ته ښکاره کړي.**
**۴- د خدای د احکامو څخه د شهادت ورکولو او دعا په وخت د هغوی څخه تابعداري وکړي.**
**دعا. اطاعت. محبت. صبر = نتيجه**

ستاسو کار
**هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوي.**

**۴- د هرې هغه دعا تر خوا يوه علامه وليکۍ چې د خپلی کورنۍ لپاره ئې کوی او د هغې مثال د خدای په کتاب کې موجود دی.**

**....الف) روزمره خوراک**
**....ب) شفا**
**....ج) د اولاد تربيت لپاره هدايت**
**....د) محافظت (ساتنه)**
**....ه) د ګناهونو معافی**
**....و) د ګناه نه ساتنه**
**....ز)د اولاد قدوسيت**
**....ح)د ښځی په خوښولو کې هدايت**
**....ط)د اولاد لپاره برکت غوښتل**

۵- د پورتنیو تمرینونو له دعا ګانو څخه مو کومه یوه د خپلې کورنیو د غړو لپاره استعمال کړیده. د هغوی تر خوا یوه علامه ولیکئ چې تر اوسه مو تصمیم نیولی وی.
۶- په خپله کتابچه کې د بلې کورنۍ او خپلوانو نومونه ولیکئ او د خدای څخه وغواړئ چې تاسو د هغوی احتیاجات پوره او احساس کړئ. لکه څنګه چې تاسو سره خدای د هغوی د ضرورتونو په پوهیدلو کې مرسته کوی. همدارنګه تاسو ئې د هغوی نومونه ورسره ولیکئ او پس له هغې هره ورځ د هغوی د پوره کولو لپاره دعا وکړئ، نو چې څنګه چې د خدای نه د دعا جواب ومومئ نو په هغه وخت کې تاریخ ئې هم تر خوا ولیکئ. که چیری تاسو کورنۍ او خپلوان نلری نو کولای شی چې دا کار تاسو د نورو کورنیو لپاره وکړی.
۷- اعمال ۱۲: ۳۱ حفظ کړی نو چې تاسو هر وخت د خپلی کورنۍ د غړو د خلاصون لپاره او یا د خپل مسیحی دوستانو لپاره دعا کوئ د دې آیات ذکر کوی.

## د نورو خلکو لپاره دعا وکړئ

دا څومره لوی افتخار دی چې د خپلو دعا ګانو په وسیله د نورو خلکو لپاره د خدای سره مرسته کوو. د نړۍ ټول خلک د یو بل مرستی ته محتاج دي. مونږ د خپلو ګاونډیانو، دوستانو لپاره دعا کوو. د مدرسو معلمانو، د کلیسا مشرانو، او د حکومت خاوندانو لپاره څنګه؟ هغوی هم د خدای مرستی ته ضرورت لری. مونږ خپل هیواد لپاره، نورو هیوادونو لپاره، ټول درد لیدونکو لپاره ټولو هغه کسانو ته چې مسیح ته احتیاج لری، نوی ایماندارانو لپاره او په ټوله نړۍ کې د خدای خلکو لپاره دعا کوو. د دوی څخه یو هم خپل تکلیفونه په خپله نشی حل کولای، خو خدای د بشر ټول احتیاجاتو ته توجه ورکوی. او د هر یو لپاره د حل لاره لټوی. مونږ د نورو خلکو ضرورتونو ته توجه ورکوو او د هغوی د حل لپاره دعا کوو او پدې ترتیب سره خدای سره مرسته کوو او د خلکو کموالی د هغه حضور ته وړاندې کوو د هغه حکمونه او پس له هغې د هغوی په مطابق عمل کوو. د هغه کلام د نورو خلکو لپاره د دعا کولو طریقه مونږ ته رازده کوی.

اول تیموتیوس ۲: ۱-۴ "نو بیا زه د ټولو نه اول دا نصیحت کوم چې غوښتنه، دعاګانی، شفاعت او شکرونه دې د ټولو خلقو لپاره کولی شی. د بادشاهانو او د ټولو لویو مرتبو د خاوندانو د پاره چې مونږ پوره په دینداری او سنجیدګۍ سره په قلاره ژوند تیرول

غواړو. دا زمونږ د خلاصوونکی خدای په نزد بهتره او غوره ده. هغه غواړی چې ټول خلق خلاصون ومومی او د حقیقت تر پیژندګلو ورسی."

متی **۵**: **۴۴** "خو زه درته دا وایم چې د خپلو دښمنانو سره مینه کوئ، او څوک چې په تاسو ظلم کوی د هغو د پاره دعا غواړئ."

یرمیا **۳۷**: **۳** "سره د دې صدقیای پادشاه، یهوکل (د شلمیا زوی) او صفینا کاهن (د معسیا زوی) ماته راولیږل تر څو زما نه وغواړی چې زه د قوم لپاره دعا وکړم."

زبور **۱۲۲**: **۲** "د صلحی او سلامتی د راوستلو لپاره په اورشلیم کې دعا وکړئ! د هر هغه چا چې دا ښار خوښ وی کامیاب دې وی."

دویم تسالونیکیان **۳**: **۱- ۲** "نو ای ورونړو! زمونږ په حق کې دعا کوئ چې د مالک کلام داسې زر خور شی او په عزت سره قبول کړی شی څنګه چې په تاسو کې او چې د بدو او ورانو خلکو نه مونږ بچ پاتی شو ځکه چې هر څوک ایمان نه راؤړی."

یعقوب **۵**: **۱۳- ۱۲** "که په تاسو کې څوک غم زپلی وی نو دعا دې وغواړی، که خوشحاله وی نو ثناه دې ووائی. که په تاسو کې څوک بیمار وی نو د جماعت مشران دې راوبلی او د هغهٔ لپاره دې دعا وغواړی او د مالک په نوم دې هغه په تیلو غوړ کړی. او کومه دعا

چې به په ایمان سره وغوښتی شی د هغې په وجه به بیمار بچ شی، او مالک به هغه پاڅوی او که هغهٔ ګناهونه کړی وی نو هغه به هم ورته معاف شی."
هغه تیل چې په پورتنی آیات کې ورته اشاره شوی هیڅ طاقت پخپله نلری، خو د روح القدس د ښکاره کیدو اصلی عامل دی. د مقدس کتاب په زمانه کې "زوړ عهد" هغه خلک به د خدای د کار لپاره په تیلو مسحه کیدل کوم چې په نظر کې د هغه خدمت لپاره نیول شوی وو. د شفا لپاره دعا به د ګناه اعتراف او د خدای لپاره د وقف کیدو سره شامله وه. ډیر خلک داسې شهادت ورکوی چې د خدای د کلام د اطاعت څخه وروسته چې په یعقوب **۵**: ۱۳- ۱۶ کې ئې ذکر شویدی هغوی حتی د نا علاجه مرضونو څخه شفا حاصله کړیده.

## راځئ چې په شریکه دا دعا وکړو

ای زمونږ آسمانی پلاره! زه تا سره مینه کوم ځکه چې ته د عبادت او محبت لایق یی. ته قادر مطلق خدای او د هر شی خالق یی. ته تر اوسه پورې مونږ سره یی او مونږ د دعا لپاره دعوتوی.

زمونږ ټول ګناهونه ته وینی او هغه ستا په وړاندې اعترافوو. ستا نه غواړو چې ته مونږ ته معافی راکړی او راسره مرسته وکړه چې هغه اعمال سر ته ورسوو کوم چې ستا خوښیږی. خدایه مونږ ستا ډیر شکر ګذاره یو چې خپل زوی عیسی مسیح دې زمونږ د خلاصون لپاره راولیږه تر څو مونږ ته خلاصون راکړی. ستا ډیر شکر ګذاره یو چې زه د خپل زوی ګڼلی یم، نو ای مالکه په خوشحالۍ سره ستا حضور ته راغلی یو او غواړو چې په دعا سره د نورو خلکو لپاره ستا سره مدد وکړو.

ای مالکه ستا نه غواړو چې زمونږ د کورنۍ سره مرسته وکړی او د هغوی د هر یو کس ضرورت حل کړه. خدایه هیله لرم چې ما ته د هغوی سره د مرستی لار راوښایه. ځینی په دوی کې خدایه ستا خلاصون ته ضرورت لری. مونږ سره مرسته وکړه چې ستا د محبت په هکله د هغوی سره خبری اتری وکړو او په خپلو ټولو کارونو سره ستا محبت هغوی ته ظاهر کړو.

مالکه د خپل هیواد د رهبرانو لپاره دعا کوم چې هغوی ته عقل او حکمت ورکړه چې تا وپیژنی او ستا خدمت وکړی. خپله صلحه په ټوله نړۍ کې تامین کړه. وږو ته خوراک، مریضانو ته شفا او بندیانو ته آزاری ورکړه.

مالکه خپلو دوستانو، نورو ایماندارانو او د کلیسا شپونکو لپاره دعا کوم. د خادمانو او خپل کار ته په ټوله نړۍ کې د کامیابی دعا کوم چې ستا پادشاهی دې راشی او ستا اراده دی په ټوله مځکه کې پوره شی لکه څنګه چې په آسمان کې پوره کیږی.
مالکه مونږ سره مرسته وکړه چې د دې کارونو په پوره کولو کې خپله برخه په صداقت سره سرته ورسوو. د عیسی په نوم او ستا د جلال لپاره دعا کوو آمین.

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۸- کوم آیاتونه مو چې ولوستل هغه آیاتونه بیا ولولۍ او د خدای نه وغواړۍ چې تاسو ته وښائې
چې په خپلو دعا ګانو کې مو په کوم ځای کې خطا کړیده. په دې هکله چې څه خدای تاسو ته وائی په خپله کتابچه کې ئې ولیکۍ.
۹- ستاسو څخه هیله لرم چې کومه دعا مو چې لږ مخکی وکړه هغه بیا وکړۍ. د دې دعا هغه ټولی برخی چې غواړی په عمومی توګه ئې بیان کړۍ مشخص کړی. ای آسمانې پلاره زه تا سره مینه کوم ځکه چې ته د ثنا او صفت لایق یې.

## د خپلو ضرورتونو په حل کولو کې کوښښ وکړۍ

خدای د دعا د جواب او مشکلاتو د حل لپاره د ډیرو عواملو څخه کار اخلی. په لومړی قدم کې زمونږ د ضرورت په تشخصولو کې مرسته کړیده او خپله علاقه یی زمونږ د ضرورت په مناسبت ښکاره کړیده او د هغې لپاره ئې تشویق کړی یو. او پس له هغې نه ئې د هغه ضرورت په هکله د دعا کولو طریقه راته ښودلی او مناسب ایمان ئې د دعا د جواب لپاره زمونږ په زړونو کې ځای کړی دی. هغه مونږ ته زمونږ برخه کار راښودلی او د هغې په سر ته رسولو کې ئې مونږ سره مرسته کړی تر څو د هغه په سبب هغه برکت زمونږ نصیب شی. د نورو خلکو د مرستی څخه بغیر هغه د موقعیتونو، او طریقو څخه کار اخلی او هغه غیر ممکن مافوق الطبعیه کارونه ممکنه وی. تر دې چې خپلې فرښتی رالیږی چې د هغه اراده پوره شی او زمونږ دعاګانو ته جواب راکړی.

## خدای دعا ته په کومه طریقه جواب ورکوي

مونږ ته وایی چې باید څه کار وکړو هغه په ټولو موقعو کې کار کوی. نورو ته وایی چې څه کار وکړی په مونږ کې کار کوی.

فرښتو ته وائی چې څه کار وکړی د شریر شیطان قدرت ته ماتی ورکوی.
په طبعیت کې کار کوی معجزی سر ته رسوی.
زمونږ لپاره د عیسی هغه معجزه کله چې ۵۰۰۰ خلکو ته خوراک ورکړ یوه ښه لار ښودنه ده تر څو چې مونږ پدې وپوهیږو چې څنګه د دعا په جواب حاصلولو کې د خدای سره مرسته وکړو. په هغه وخت کې عیسی د هغه ماشوم خوراک لپاره د برکت دعا وکړه، او هغې ته ئې برکت ورکړ او بیا ئې د رسولانو په لاسونو کې هغه خوراک کیښود چې خلکو ته ئې ورکړی. هغه ماشوم کولای شو چې خپل خوراک پخپله وخوری. شاګردانو هم کولی شو چې هغوی خوړلی وی. خو هغوی هغه خوراک نورو خلکو ته ورکړ، نو په هغه وخت کې معجزه وشوه. همدارنګه د نورو خلکو سره په شراکت کې خدای هغې ته یو قسم برکت ورکړ چې د هغوی ځینی ټولو خلکو وخوړه او ۱۲ ټوکری تری اضافه هم شوی. مونږ هم باید د دعا نه غیر د اوږو خلکو په احتیاجاتو کې هغوی سره مرسته وکړو. نو په هغه وخت به په دعا کې او د نورو سره په مشراکت کې به خدای مونږ ته برکت راکړی او زمونږ ټول مشکلات او ضرورتونه به حل کړی. عیسی وویل:
لوقا ۶: ۳۸ "ورکوی نو تاسو ته به هم درکړی شی. ښه پیمانه منډلی دربلی ښه ډکه کړی او تر مورګو مورګو به

ستاسو په جولۍ کې واچولی شی او په کومه پیمانه چې تاسو میچ کوی هم په هغې به تاسو ته میچ وکړی شی."
د نحمیا ټول کتاب د هغه چا الهامی شهادت دی چې خدای ته د دعا جواب او نورو ته په مختلفو موقعو کې کار وکړ. نحمیا د بابل د غلامی په وخت کې، ښه مقام درلود. نحمیا د پادشاه د اعتماد وړ نوکر وو. خو هغه د خپلو نورو هیوادوالو په ضرورتونو او خصوصاً د خپلو ښاریانو سره چې اورشلیم ته تللی وو فکر کاوه. هر کله چې د تکلیفونو خبری ئې د خپل ورور څخه واورید، نو فریاد یی وکړ.
نحمیا ۱: ۴ "هر کله چې ما دا خبر واورید، کښیناستم او ژړا مې وکړه. او د ډیری نا آرامی په وجه مې څو ورځې ډوډی ونه خوړه، او په دغه وخت کې مې د آسمانونو خدای په حضور کې دعا وکړه."
نحمیا د قوم د حفاظت او امنیت لپاره چې د کومو دیوالونو جوړولو ته ضرورت درلود دعا وکړه او خدای د هغې د حل لار هغه ته وښودله. د نحمیا زیر کی تر دې پورې وه چې د پادشاه پاملرنه ئې ځانته را وګرځوله او د هغه د علت د پیدا کولو په کوشش کې شو. په شروع کې نحمیا وویرویدو ځکه چې هیچا دا حق ندرلود چې د پادشاه په مخکې غمګین اوسی. د داسې کسانو لپاره سزا ورکولو امکان هم وه او حتی دا چې د پادشاهی د ناراحتی په سبب کیدای شو چې خپله وظیفه ئې هم د لاسه

ور کړیوه. مګر نحمیا لنډه دعا وکړه او وخت ئې غنیمت وګاڼه او د خپل قوم احتیاجات ئې پادشاه ته وړاندې کړل. نحمیا داسې دعا وکړه "نن ورځ ما سره مرسته وکړه او د پادشاه زړه رحم کړه."

نحمیا ۲: ۵ "د آسمانونو د خدای په حضور کې مې دعا وکړه او پادشاه ته مې وویل که چیری د پادشاه خوښه وی او د دې غلام سوال په خپل حضور کې قبول کړی ما د یهودا ښار او د خپلو پلرونه هدیری ته ولیږه تر څو هغه بیا ودان کړم." نو بیا پادشاه زما لیږل هلته لاژم وګڼل.

دا څومره د ویاړ خبره ده! خدای د نحمیا د دعا په جواب کې، پادشاه یو د نحمیا د طرحی شریکوال ګرځوی هغه نحمیا ته اجازه ورکړه نو صلاح کاران او عسکر ئې ورکړل چې د هغه حفاظت وکړی خدای په څو ځله د نحمیا دعا واوریدله او د هغه سره ئې مرسته وکړه هغه په کومو مشکلاتو کې بند شوی وو؟ خو هغه پدې توانیدلی ؤ چې هر یو مشکلات د پښو لاندی کړی دیوالونه ئې بیا ودان کړل او په اورشلیم کې د حاکم په صفت کار وکړی. نحمیا د خپلې کامیابی راز پدې کلیمو کې خلاصه کوی. "خدای ما سره وو" کولای شو چې په بل عبارت ووایو ځکه چې هغه غوښتل چې د خدای سره د دعا په جواب کې مرسته وکړی. د همدې دعا په جواب کې مرسته وکړی. د همدې دعا په وسیله ډیری مسئلی حل شوی.

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱۰- که چیری تاسو مقدس کتاب لری نو هیله کوم چې هغه ولولئ. د هغه دعا ګانو ته په غور سره توجه وکړئ خاص هغه تکلیفونو ته چې کیدای شی تاسو هم ورسره مخامخ شوی یی او یا به شی. پدې هکله چې خدای هر یو فکر خاص ستاسو په ذهن کې آچولی هغه په خپله کتابچه کې ولیکئ.

۱۱- اوس خپلې کتابچه کې هغه دعا ګانو ته بیا وګورئ چې کومې تاسو لیکلی دي. او د خدای نه غواړئ چې هغه تاسو ته د دې هر یوې په هکله څه هدایت درکړی چې تاسو ئې باید وکړئ. په خپله کتابچه هر هغه څه ولیکئ کوم چې تاسو د خپلې دعا په هکله وایی او فکر کوی او بیا هغه موقع چې خدای تاسو ته درکړی تر څو تاسو هم د نورو خلکو په مشکلاتو په حل کې برخه ولرئ او د هغې څخه ګټهور شی ویې لیکئ.

## خپل جوابونه مقایسه کړئ

۴- د هرې موضوع مثال په مقدس کتاب کې موجود دی. د دې لوست نور تمرینونه هم عملی دی چې باید په دعا

سره تمرین شی. امید لرم چې دې تمرینونو به تاسو سره مرسته کړې وی. زه تاسو څخه دا خواست کوم چې خپله کتابچه او دا لوست بیا تکرار کړې.

## شپږم لوست

-

## د دعا په وخت کې د نورو سره یو ځای شی

- د خپل دوست سره دعا وکړی
- د خپلی کورنی سره دعا وکړی
- د دعا د ډلی سره، دعا وکړی
- د کلیسا سره دعا وکړی

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی تر څو....

- مناسب وخت د نورو خلکو سره د دعا لپاره تشخیص کړی او د هغوی نه ګټهور شی.
- د نورو د دعا په تشویقولو سره د خپل شا او خوا خلکو په منځ کې د خدای کار لپاره د ترقی باعث شی.

## د خپل دوست سره دعا وکړی

آیا تاسو تر اوسه پورې د هغه برکتونو تجربه لری چې د یو دوست سره مو د یو ځای دعا کولو په نتیجه کې حاصل کړی وی؟ د یو بل په غم او درد کې په شریکیدو سره

خدای مونږ یو بل ته نژدې کوی. دا ځومره اعلی خبره ده چې زمونږ دوست زمونږ د مشکلاتو لپاره دعا کوی! د خدای د وعدو په یادولو او د یو بل په تشویقولو سره زمونږ ایمان قوی کیږی. مونږ کولای شو چې په دعا سره د هماغه مسئلو په باره کې چې یوازی ځان د نورو ایماندارانو سره یو ځای شو. په یو مناسب وخت کې کولای شو چې د دعا لپاره د نورو ایماندارانو سره یو ځای شو.

عیسی وعده کړیده چې هر چیرته چې دوه یا درې کسان زما په نوم کې راټول شی زه به په خصوصی توګه د هغوی په مینځ کې حاضر اوسم. بلکل په هماغه طریقی سره لکه د هغه دوه شاګردانو چې د عیسی په هکله خبری کولی.

مسیح په ژوندی توګه هغوی ته ښکاره شو، تاسو او ستاسو ملګری هم کولای شی چې د هغه د حضور احساس وکړی. هغه به د خپل کلام په وسیله تاسو سره خبری وکړی. هغه به تاسو ته برکت درکړی او د خپل حضور د خوشحالۍ نه به تاسو معموره کړی او بیا به هغه تاسو ولیږی چې نورو خلکو ته وو ایی چې هغه ژوندی دی.

مسیح په عماوس کې د ماښام ډوډۍ په وخت کې خپل ځان خپلو شاګردانو ته ښکاره کړو. زمونږ په ژوند کې د یو بل سره ډوډۍ خوړل او میلمستیا د ښی ملګرتیا او محبت او د خدای د معجزو او عجیبه کارونو لپاره ښه او مناسبه موقعه برابروی. ډیر مسیحیان خپل ملګری غوره ماښام

لپاره دعوتوی تر څو هغوی عیسی ته معرفی کړی. او عیسی په هغه ځای کې حاضر وی!

امید لرم چې تاسو به د یو بل سره ملګرتیا ولری او کم تر کم په هفته کې به یو ځل د یو بل سره په شریکه دعا کوی.

د یو کس په دعا کې تاسو سره په شریکه دعا کوی. د یو کس په دعا کې تاسو سره شاملیدل ډیر زیات اهمیت لری.

دا کس کولای شی چې تاسو تشویق او رهنمائې کړی. یا یو کس نوی ایماندار وی او هغه ستاسو مرستی او رهنمائې ته ضرورت لری. په واقعیت کې به تاسو غواړی چې د هغه چا لپاره دعا وکړی چې د مسیح لپاره مو هدایت کړی وی.

دوه یا دری کسان چې د عیسی په نوم د یو خاص شی لپاره په شریکه او یو زړه راټول شی، په مقدس کتاب کې دوه اوچتی وعدی ورکړی شوی دي: هغه به هلته حاضر وی او جواب به درکړی.

متی ۱۸: ۱۹- ۲۰ "زه تاسو ته دا بیا وایم، که چیری په تاسو کې دوه تنه په یوه خبره یوه خلهٔ شی هغوی چې څهٔ سوال وکړی نو زما آسمانی پلار به ئې قبلوی. ځکه چې دوه یا درې تنه چې چرته هم زما په نوم یو ځای شی نو زه به د دوی په مینځ کې یم."

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- متی ۱۸ : ۱۹- ۲۰ حفظ کړئ.
۲- په خپله کتابچه کې د خپلو هغه دوستانو نومونه ولیکئ چې تاسو په شخصي توګه هغوی ته دعا کوئ. که چیرې تاسو څوک نلرئ چې د هغه لپاره دعا وکړئ نو یو کس پیدا کړئ.

## د خپلې کورنۍ سره دعا وکړئ

د مځکې پر مخ مسیحي کورنۍ یو د لوی او غټو برکتونه له جملې څخه ده. په حقیقت کې چې د یو کورنۍ ټول غړي په شریکه سره د خدای عبادت او پرستش کوي نو د آسمان څخه یو کوچنې مثال دی. که چیرې ستاسو کورنۍ خدای پیژني، نو په دعا او شراکت او د روزمره برکتونو په خاطر یو ځای راټولیږئ او یو بل له لاس مه ورکوئ. کله، کله داسې راټولیدلو ته "د یو کورنۍ روزانه عبادت" او یا "د کورنۍ محراب" څخه شمیرل کیږي. که چیرې ممکنه وي نو پلار د کورنۍ د مشر په صفت د دې رهبري او راټولیدو مسؤلیت په غاړه اخلي. نو که چیرې دا ممکنه نه وي، نو ښځه دې ماشومان د دعا لپاره هدایت کړي. هر مسیحي کولای شي چې د نورو کورنیو غړي او دعا او د کلام

لوستلو لپاره دعوت کړی او ورسره شراکت ولری. یوه مسیحی کورنۍ د میز سر ورځنۍ دعا او شکر ګذاری د ډوډۍ خوړولو په وخت کې نه هیروی او د خدای نه غواړی چې هغه خوراک ته برکت ورکړی.

اول تیموتیوس ۴: ۳- ۴ "....خوراکونه چې خدای د دې د پاره پیدا کړی دي چې ایمان راوړونکی او حق پیژندونکی دې په شکر ګذارۍ سره وخوری.... ځکه چې د خدای هر پیدا کړی څیز ښه دی او هیڅ څیز د انکار لایق نه دی، خو په دې شرط چې د شکر ګذارۍ سره وخوړی شی."

ماشومانو ته د یو بل سره په شریکه د احتیاجاتو لپاره دعا کولو تربیت ورکول ډیر ښه کار دی. هغوی هر وخت کولای شی چې خپلو والدینو ته ولاړ شی او د خپلو احتیاجاتو د رفع کولو لپاره ورځخه دعا وغواړی. په همدې ترتیب ماشومان د دعا سره عادت کیږی تر څو په خپل ژوند کې خدای وپیژنی او د مرستی او لار ښودنی لپاره د هغه طرف ته رجوع وکړی. د کورنۍ دعا د خپلی کورنۍ د غړو لپاره ډیر محبت او یوالی پیدا کوی. پس لدې ژوند لږ غوندې ښه کیږی ځکه چې کورنۍ د یو بل له تکلیفونو لپاره دعا کوی. او خدای د هغوی د دعا ګانو جواب ورکوی.

## دعا

| | |
|---|---|
| د کورنۍ لپاره | د کورنۍ سره |
| د ټولو خلاصون | په کورنۍ دعا کې |
| د کورنۍ اړیکی | د خوراک په میز |
| د کورنۍ ضرورتونه | په کلیسا کې |
| د کورنۍ ضرورتونه | د کورنۍ د خلکو سره |

که چیری تاسو غواړۍ چې په خپل کور کې مجلسونه ولری او یا د نورو خلکو سره د داسې مجلسونو په ترتیبولو کې مرسته وکړی، دا لاندې خواستونه کیدای شی ګټور واقع شی.

## د کورنۍ عبادت لپاره خواست

۱- د مجلس لپاره هغه وخت تعین کړۍ چې د ټولو لپاره ښه او مناسب وی. وختی سهار ډیر ښه دی. ځینی کورنۍ د سهار د چایو په وخت یو ځای کیږی او په شریکه دعا کوی. او ځینی نور په ماذیګر کې د دعا کولو لپاره راټولیږی.

۲- که چیری دا امکان ولری نو هره ورځ په هماغه مقرر شوی وخت کې دعا وکړی.

۳- په دعا کې د کورنۍ ټولو غړو ته د دعا کولو برخه ورکړی. که امکان ولری ټولو ته اجازه ورکړی چې د خدای

د کلام په لوستلو، د دعا تقاضا، د نظر څرګندولو او دعا کولو کې شرکت وکړي.
۴- که چیرې په یو کورنۍ کې ماشومان وي نو د مقدس کتاب څخه دې ساده یو لنډ آیات ولوستل شي. (دا ممکنه ده چې د مقدس کتاب څخه د ماشومانو د قصو څخه کار واخستل شي." ډیرې کورنۍ د مقدس کتاب څخه غیر د عبادت د کتاب یوه برخه هم مطالعه کوي.
۵- د کورنۍ هر غړي ته اجازه ورکړي چې هغه موضوع ګانې چې مطالعه شوي د هغوي په باره کې سوالونه مطرح کړي.
۶- که چیرې غواړي نو یو یا دوه د شکر ګذارۍ سرودونه ووایي.
۷- د دعا مخصوصو موضوعاګانو او شکر ګذارۍ ته وخت ورکړې.
۸- د دعا لپاره یو لنډ وخت وټاکی چې په دغه وخت کې یو یا څو کسان دعا وکړي. (هیله لرم چې ستاسو دعا ګانې دې لنډې وي د دې لپاره چې ستاسو د کورنۍ غړې دې له هغې څخه ستړي نشي).
۹- ټول د خدای د آواز اوریدلو لپاره تشویق کړې. او د دې کار لپاره منتظر اوسی چې خدای ستاسو د کورنۍ د ټولو غړو سره خبرې وکړي.
۱۰- هغه لنډه دمه چې په کورنۍ عبادت کې د کوم سبب په وسیله پیدا کیږي د هغې لپاره مه خفه کیږي. بیا

کوشش وکړی. همیشه د یو مقرر شوی وخت او دستور څخه پیروی مه کوی بلکه د خدای د رهبرۍ په مطابق خپلو ضرورتونو ته تغیر ورکړی.

## ستاسو کار
### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

**۳**- د کورنۍ دعا اهمیت، او د دې لپاره موقع برابرول نو د دې کار لپاره چې کومې طرحې مناسبې دي خپل ځان سره وربانديې فکر او نور ایماندارانو ته ئې پیشنهاد کړی. که چیری تاسو په کور کې یاست نو د کورنۍ د نورو غړو سره په دې بابله خبری وکړی. که چیری کورنې ګروپونه لری او د هغوی د دعا ګانو د اصلاح کولو لپاره څه لری نو په خپله کتابچه کې ئې ولیکۍ.
**۴**- هغه څلور موقع چې د خپلی کورنۍ سره مو په شریکه دعا کړی وی ولیکۍ.
اوس مو د دې څلورو څخه کوم یو خپل عادت او کاروبار ګرځولی دی؟
**۵**- که چیری تاسو ته داسې وخت په لاس درغلی وی چې خپله کورنۍ دعا شروع کړی نو امید لرم چې تاسو به د دې وخت څخه استفاده وکړی. که څه هم چې دا وخت

صرف د کورنۍ د یو غړي او هغه هم د یو کس د ضروریاتو لپاره وي.

## د دعا د ګروپ سره متحد شۍ

خدای نن ورځ په عجیبه توګه د دعا د کوچنیو ډلو تر منځ کار کوي. دوستان د یو بل سره راټولیږي تر څو په شریکه دعا او مقدس کتاب ولولي. په هغه وخت کې چې دوی د یو بل د ضرورتونو لپاره په دعا کې یو کیږي خدای دوی ته جواب ورکوي. ستاسو هغه ګاونډیان چې په مسیح باندې ایمان نلري نو هغوی د کلیسا په نسبت د یو ملګري کور ته دعوت او تلل زر قبلوي. ځینی خلک د همدې کورنۍ مجلسونو او عبادت په وخت کې په مسیح ایمان راوړي. او هغه پیژني. د کوچنیو ګروپونو د عبادت په وخت کې ډیرو خلکو شفا موندلی ده، د هغوی کورنۍ مشکلات او تکلیفونه د خدای په واسطه له منځه تللی دي. او په زرګونو خلک د روح القدس نه معموریږي. ننني واقعات بلکل د هغه واقعاتو په شان دي کوم به چې د مقدس کتاب په زمانه کې پیښیدل. لمړنې عیسویان به د یهودیانو په عبادت خانو او کورنو کې د عبادت لپاره راټولیدل. خو لږه موده وروسته هغوی وځوریدل او د عبادت خانو نه وشړل شول. سره لدې ټولو تکلیفونو هغوی په دې پوهیدل چې د مسیح وعدی حقیقی دي نو

لدې کبله ئې کوچنی ګروپونه جوړ کړل او په کورنو کې را ټولیدل او مسیح په هغه ځای کې وو! په کورنو، غارونو، د سیند په غاړو، په تاخانو، د قبرونو په منځ او بندیخانو کې د یو بل سره دعا کوله او خدای د هغوی دعا ته جواب ورکاوه.

د لمړی ځل لپاره پطروس د رومی افسر کورنیلوس په کور کې د انجیل زیری غیر یهودیانو ته ورکړ. خدای په هغه ټولو کسانو چې په هغه ځای کې راټول شوی وو روح القدس او برکت نازل کړ او پدې ئې هغوی وپوهول چې انجیل د ټولی نړی لپاره د هدایت او خلاصون کتاب دی.

پس لدې پطروس بندي شو او په بله ورځ وربانديې د مرګ حکم شوی وو. مګر ځینی مسیحیان د مریم په کور کې چې د یوحنا او مرقوس مور وه راټول شوی وو او په ډیر جوش سره ئې د پطروس لپاره دعا کوله. فرښتی پطروس د بندي خانی نه راوویستو. زنځیرونه ولیدل او دروازی خلاصی شوی. د دعا لپاره د راټولیدلو نتیجه آزادی ده!

د فیلپیانو کلیسا د دعا په یوې جلسی سره شروع شوه. پولوس او سیلاس هغه ښځی وموندلی چې د سیند په غاړه به د دعا لپاره راټولیدلی. د هماغو ښځو د جملی څخه چې لیدیه نومیدله په عیسی مسیح باندې ئې ایمان راوړو. هغې د خپل کور دروازه پطروس او سیلاس ته خلاصه کړه تر څو چې د هغې کور د فعالیت مرکز په فیلیپی کې اوسی. د خویندو دعا د ښو نتیجو د میوو

راوړو سبب کیدای شی. که چیری تاسو هغه خط مطالعه کړی کوم چې پولوس د فیلپیی کلیسا ته ولیکلو د هغې کلیسا روحانی قدرت به په ژوره توګه تاسو ته ښکاره شی.
نن ورځ د دعا کوچنی ګروپ کاملاً د تغیر وړ دی. ځینی کسان په هماغه کور کې راټولیږی. ځینی نور کسان په نوبت سره په همدا رنګ مجلسونو کې راټولیږی. ځینی کسان په کلیسا ګانو کې، کارخانو کې، په ادارو او مدرسو کې د دعا لپاره راټولیږی. د دوه او یا دری کسانو په شرکت سره دا تشکیل جوړیدلی شی. که چیری د دعا کونکو شمیر د پنځلس کسانو څخه زیات شی نو کیدای شی چې د کوچنی ګروپ په نسبت په هغه پنځلس کسیز ګروپ آزادی محدودیږی. د خویندو ډیری جلسی په هغه وخت کې کیږی چې کله سړی په کار او ماشومان په مکتب کې وی. ډیر مختلف ګروپونه په ماښام کې راټولیږی. ځینی ګروپونه د دعا څخه وروسته د مشارکت او د قبلولو لپاره وخت لری. ځینی ایمانداران د سهار او ناشتی په وخت کې په هوټلونو او رسټورانټونو کې د دعا لپاره راټولیږی.
د دې مجلسونو مشران باید د نورو موقعیتونه او مسؤلیتونه په نظر کې ونیسی. ډیر اوږده مجلسونه د کور د کار د ممانعت سبب کیږی. (باید په خپلو کارونو کې غفلت ونکړو) امکان لری چې ځینی ایمانداران د ډیرو اوږدو مجلسو به سبب سره خپل شوق او علاقه له لاسه

ورکړي. هر څومره چې دا کسان کولای شي چې د مشارکت او مجلس په وخت کې د هر څه نه صرف نظر شي او دا وخت د خپل خدای سره تیر کړي. که چیری خلک دې ته تیار وی چې د جلسی د خلاصیدو نه مخکې هغه ترک کړي. هغوی آزاد پریږدی. هر کله چې خدای معجزی سر ته رسوی، د انسان ژوند بدلوی او هغوی د خپل روح نه معمورو‌ی او داسې ښکاری چې وخت هم ډیر په تیزی سره تیریږي. د دعا د جلسو پورې مربوط خواستونه کیدای شی چې د دعا کوچنیو ګروپونو لپاره ګټور تمام شی. د لاندې نکتو رعایتول به په دې هکله په پوره توګه موثر وی.

۱- په شروع کې لږ وخت د سرود ویلو لپاره مخصوص کړي. سرودونه به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو د خدای نیکی ستاسو په فکرونو کې متمرکز او ایمان مو قوی شی.

۲- لږ وخت د کلام د مطالعی او د خپلو نظریاتو د تبادلی لپاره ورکړي. امکان لری چې دا برخه د مقدس کتاب د معلم په وسیله او یا په مجلس کې هر یو غړی هغه آیاتونه ولولی، کوم چې د هغوی د برکت باعث شوی وی.

۳- لږ وخت د دعا د جواب او د هغې بیا تکرارولو په خاطر په نظر کې ونیسی. نو پدې طریقې سره به هر یو کس د خدای د هغه کارونو لپاره چې د دوی لپاره ئې سر ته

رسولی شکر گذاری وکړی او هغوی به د نوو موضوع گانو لپاره تشویق شی.

۴- هغه کسان چې خاص احتیاجات لری هغوی تشویق کړی، چې خپل احتیاجات د گروپ نورو غړو ته ووایی.

۵- د جلسی هر یو غړی تشویق کړی، چې د خدای په هدایت په دعا کې د ضرورتونو او د نورو خلکو لپاره برخه واخلی او د هغوی لپاره دعا وکړی.

کورنی، جلسی دعا او د مقدس کتاب مطالعه کیدای شی چې د محلی کلیسا د زیرو څخه وی. کیدای شی چې کله دا جلسی بین الکلیسایی او یا بین الفرقه اوسی. په ۱۹۷۲ کې د ربانی کلیسا غړی په سئول کې چې د کره پایتخت دی د یانگی چو شپون په وسیله په یو کال کې د ۲۳۰۰۰ کسانو څخه ۳۵۰۰۰ کسانو ته ورسیدل.

دا خلک په لس نفری گروپونو باندې تقسیم شویدی نو ۳۵۰۰ گروپونه په یوه هفته کې د دعا لپاره راټولیږی. دا یو حیرانونکی کار دی! توبه معجزه او ترقی! په ډیرو ځایونو کې د نورو کلیساگانو مختلفی ډلی، یعنی (کاتولیک او پروتستانت) د دعا او د مقدس کتاب د مطالعی لپاره یو ځای را ټولیږی. خدای د انسانانو ژوند بدلوی. کلیسا ته ژوند ورکوی او په نتیجه کې د خدای نیک خلک د مسیح بدن کې یو ژور اتحاد او یوالی وربخښی.

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۲- تاسو کله چیری نشی کولای چې د دعا د شرکت کوونکو سره یو ځای دعا وکړئ، نو په خپله دعا کې د خدای څخه وغواړئ چې دا کار ستاسو لپاره سر ته ورسوی.

## د کلیسا سره دعا وکړئ

د دعا لپاره د ګروپونو را ټولیدل یو عالی کار دی ولی کلیسا د دې نه هم زیات اهمیت لری. کلیسا مسئولیت او وظیفه لری. هغوی باید مسیح ټولې نړۍ ته ور وپیژنی. مسیحیان په خپل ایمان کې قوی او استوار او هغوی د خدمت لپاره تربیت کړی او په ورځنې ژوند کې د خدای خدمت کولو لپاره د هغوی سره مرسته وکړی. امکان لری چې د ملګرو د دعا په کوچینوګروپونو او مجلسونو کې، برکتونه، نوی ملګری او د خدمت کولو لپاره یو تازه وخت تر لاسه کړو، مګر دا هم ضروری خبره ده چې په محلی کلیسا کې شرکت کولو خواهش ولرو. او همدارنګه باید هغه کسان هدایت او رهنمائی کړو چې په مجلسونو کې مسیح وپیژنی او باید چې هغوی د محلی کلیسا ګانو سره

ګډون او شراکت ولري. هغوی د کلیسا د خدمت لپاره محتاجه دي او باید چې د یو قوی غړی په حیث ترقی وکړي او په فعالیتونو او خدمتونو کې لویه ونډه ولري.
دعا د کلیسا د یو اساسی رکنونو څخه دی یعنی د هغې قدرت دی. عیسی د خدای کور د دعا کور وبللو. شاګردان د دعا لپاره د خدای کور ته ولاړ. د کلیسا رهبران زیات وخت په دعا کولو کې تیروی. خدای غواړي چې ټول هغه کورونه چې د عمومی دعا لپاره پرانستل شوی دي د دعا کور ئې وبلی. یعنی هغه ځای چې خدای د خپلو خادمانو سره هلته ملاقات او لیدنه کوی.
یشعیا **۵۶: ۷** "هغوی به د خپل عبادت په کور کې خوشحاله کړم ... زما کور به د ټولو قومونو لپاره د عبادت او د دعا د کور په نوم وبلل شی."
اعمال **۲: ۴۲- ۴۳** "هغوی به د رسولانو تعلیم آوریدلو ته، د شریک ژوندون، په یو ځای د ډوډی ماتولو او د دعا د پاره راغونډیدل.... په هر چا ویره وه او د رسولانو ډیر عجیبه کارونه او نخښی څرګندی شولی."
اعمال**۲: ۴۶- ۴۷** "هغوی به هره ورځ په یو زړه د خدای په کور کې راجمع کیدل او په کورونو کې به ئې په شریکه ډوډی ماتوله او خپل خوراک به ئې په خوشحالی او په صفا زړه سره شریکولو.... هغوی د خدای ثناه وئیله، نو ټول خلک تری راضي وو او هره ورځ څومره خلکو چې خلاصون موندلو نو مالک د هغوی په ډله کې شاملول."

اعمال ۳: ۱ "یوه ورځ ماسپښین درې بجې د عبادت په وخت پطروس او یوحنا د خدای کور ته تلل."
پطروس او یوحنا کله چې غوښتل چې د عبادت لپاره د خدای کور ته داخل شی نو یو فلج سړی یې ولید. هغوی هغه ته د عیسی په نوم امر وکړ چې ودریږده او کور ته لاړ شه او هغه دا کار وکړ! نو په نتیجه کې چې پطروس دا وعظ او معجزه وکړه نو ۳۰۰۰ کسانو په عیسی باندې ایمان راوړ، حکومت پطروس او یوحنا د دې وعظ په خاطر بندیان کړل او هغوی ته ئې حکم وکړ چې نور هغوی دا کار باید ونکړی. نو هر کله چې هغوی د بندیخانه نه آزاد شول په هم هغه ساعت د نورو مسیحیانو پسی لاړل او دعا ئې وکړه چې خدای هغوی ته زړورتیا ور نصیب کړی تر څو د همیشه لپاره د مسیح په هکله د خلکو سره خبری وکړی.
اعمال ۴: ۳۱ "کله چې هغوی خپله دعا ختمه کړه نو په کوم کور کې چې هغوی راغونډ شوی وو، هغه وجړقیدلو او ټول په روح القدس معمور شول او د خدای کلام ئې ښه په زړه ورتیا بیان کړو."
نن ورځ څرنګ کولای شو چې د خدای کور د دعا کور وګرځو دعا د ټولو کلیساګانو د مجلسونو د یوې برخې څخه عبارت ده. د مقدس کتاب د تعلیم صنفونه، د عبادت مجلسونه، د ځوانانو مجلسونه، او بشارتی مجلسونه. د دعا د موضوع ګانو په عنوان او د جوابونو په

هکله د شهادت په اوریدلو وخت ورکول کیږی. ځینی کلیساګانی خاص کوټی هغه ډلو ته مختص کوی کوم چې د مجلس د راجمع کیدلو نه دمخه دعا کوی. ځینی جلسی دا کوټی هغه خلکو ته په کلیسا کې مختص کوی چې هغوی غواړی چې عیسی مسیح قبول کړی او یا غواړی چې د روح القدس څخه معموره شی. مسیحیان دغه کسانو ته لارښودنه کوی او د هغوی لپاره دعا کوی. په نورو کلیساګانو کې د دعا څخه دمخه او د مجلس څخه وروسته د دعا لپاره ممبر ته راجمع کیږی. ځینی کلیساګانو دروازی د هغه خلکو لپاره چې غواړی چې دعا وکړی تل خلاصی دي. ځینی خلک د سهار په وخت کې د دعا لپاره راجمع کیږی ځکه چې وروسته هغوی چې بیا خپلو کارونو ته ځی. د کره په ډیرو کلیساګانو په سلګونو ښځی او نر هر سهار پنځه بجی د دعا او عبادت لپاره راجمع کیږی.

آیا ستاسو کلیسا یوې روحانی بیداری ته ضرورت لری؟ آیا ستاسو د کلیسا شپون او یا بیشپ په خپل خدمت کې د خدای قدرت ته ضرورت لری؟.آیا تاسو غواړی چې د کلیسا ټول غړی د روح القدس نه معموره شی او لکه د لمړنۍ کلیسا په شان د شهادت ورکولو لپاره زړورتیا ولری؟آیا غواړی چې د دعا په جواب ورکولو سره معجزیووینی او خدای هره ورځ د خلاصون پیدا کوونکو شمار

زیات کړي؟ که چیرې داسې نو خپلې کلیسا لپاره، په خپله کلیسا کې د خپلې کلیسا سره دعا وکړئ.
خدای هم دا کار نن سبا په ډیرو کلیسا ګانو کې سر ته رسوي. په هغه وخت کې چې تاسو خپله وظیفه سر ته ورسوئ او نور خلک د دعا لپاره تشویقوئ، نو خدای کولای شي چې ستاسو څخه کار واخلي تر څو ستاسو کلیسا هم داسې نتایج ولري.
زبور ۱۲۲: ۱ "خوشحاله شوی به وم که چیرې ماته ویلي چې د خدای کور ته لاړ شه"
زبور ۱۳۴: ۲ "خپل لاسونه مقدس ته پورته کړئ او خدای ته مبارک ووایئ"

ستاسو کار
**هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ**

۷- په خپله کتابچه کې د خپلې کلیسا ضرورتونه ولیکئ کوم چې ستاسو څخه ئې تمه لري نو د هغوی لپاره دعا وکړئ.
۸- د خدای نه وغواړئ چې تاسو ته وښایي چې څنګه کولای شي چې ژور خدمت د خپلې کلیسا لپاره وکړئ. هغه جواب چې خدای تاسو ته درکوي په خپله کتابچه کې ئې ولیکئ.

## خپل جوابونه مقایسه کړئ

ټول جوابونه عملي دي او باید هغه په عمل کې سرته ورسوی او تمرین ئې کړئ.

## اوم لوست

### د دعا په وخت کې روح القدس ته وخت ورکړئ چې تاسو سره مرسته وکړي

- د روح القدس آواز ته غوږ ونیسئ.
- د روح القدس احساس درک کړئ.
- روح القدس ته وخت ورکړئ چې هغه ستاسو په وسیله دعا وکړي.
- د روح القدس په قدرت باندې عمل وکړئ.

### دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو....

- روح القدس ته وخت ورکړئ چې هغه تاسو ته اصلي موضوع او د دعا کولو طریقه در وښایي.
- تاسو به د روح القدس د آزادئ په وسیله په خپل عبادت او دعا کې نور هم قوي کړئ او لویه کامیابي به حاصله کړئ.

## د روح القدس آواز ته غوږ ونیسئ

ای خدایه د هغه غربت پښه، ای خدایه! ای خدایه د هغه بې زلی پښه!" دا دعا د هغه ښځی وه چې د یو مبشر په هکله چې د انجیل د بشارت لپاره تبیت ته تللی وو او آواز وه چې هغه مړ شوی دی. نوموړی ښځه چې د دعا کولو لپاره په زنګنونو شوه چې دعا وکړی نو بې اختیاره ئې دا دعا له خولی څخه راووتله. هو دعا د هغه مبشر د پښو لپاره چې مړ شوی وو! دا ښځه هم حیرانه شوی وه چې ولی د هغه د پښو لپاره دعا کوی. خو په ډیری چټکتیا سره دا خبره معلومه شوه چې هغه مبشر نه دی مړ شوی. مګر پښی ئې د همالیه د واورو په وسیله یخ وهلی دي که چیری د دې ښځی د دعا په وسیله معجزه نه وه شوی، نو هغه سړی به د واوری د لاندې منجمد شوی وو او په خپله به هم له منځه تللی وو. هغه چې د روح القدس په وسیله د دعا د جواب په هکله هدایت شوه. معجزه وشوه.
د خدای شکر چې روح القدس په دعا کې زمونږ سره مرسته کوی. هغه تیار دی تر څو په مونږ کې ژوند وکړی او مونږ ته تازه طبعیت راکړی او مونږ هدایت کړی چې د خدای عبادت او خدمت وکړو په دې لوست کې به د تیر لوست یوه برخه مطالعه کړو تر څو د روح القدس آزاد پریښودلو طریقه د دعا په وخت کې زده کړو یعنی چې

پدې خبره باندې ښه پوه شو چې هغه مونږ سره مرسته کوی.

رومیان ۸: ۲۲- ۲۷ " روح القدس هم په دې شان زمونږ په کمزورتیاؤ کې مدد کوی. مونږ ته دا هم نه ده معلومه چې دعا څنګه کول په کار دی خو روح القدس په اسویلو زمونږ شفاعت کوی چې په لفظونو کې نه شی بیان کیدلی. او خدای څوک چې زمونږ د زړونو لیدونکی دی، هغه ته دا معلومه ده چې د دې روح القدس خیال څه دی ځکه چې هغه د خدای د خلکو د پاره د خدای د مرضۍ په مطابق شفاعت کوی."

| زمونږ مشکلات. | د هغه مرسته. |
|---|---|
| د دعا کمبود. | مونږ دعا لپاره تشویقوی. |
| لږ ایمان. | مونږ ته ایمان راکوی. |
| د ضرورتونو په هکله غفلت. | مونږ ته وایی چې د څه لپاره دعا وکړو. |
| د خدای د ارادی څخه ناخبرتیا. | مونږ ته د خدای ارادی لپاره دعا کوی. |
| د شیطان مخالفت. | مونږ ته کامیابی راکوی. |
| د بیان محدودیت. | زمونږ په وسیله دعا کوی. |

یوحنا ۴: ۲۴ "خدای روح دی او هر څوک چې د هغه عبادت کوی هغه دې هم په روح او په رښتیا سره د هغه عبادت وکړی."

مونږ مخکې په دعا کولو کې د خدای آواز ته د غوږ نیولو په هکله خبری وکړی. دا روح القدس دی چې د دعا په هکله وخت او د مقدس کتاب د مطالعی په وخت کې د دواړو خواوو څخه خبری کوی. کله هغه زمونږ د ژوند هغه نکتی چې خدای د هغه څخه خوشحاله ندی مونږ ته څرګندوی. او هغه مونږ سره مرسته کوی چې د خدای په مخکې د هغوی اقرار وکړو او د هغه څخه مرسته وغواړو. او بیا مونږ ته آرام او تسلی رابخښی چې خدای مونږ بخښلی یو. د روح القدس آواز ته غوږ نیول او د هغه مدد قبلول زمونږ ورځنی ژوند کې بدلون راولی.

رومیان ۸: ۱۴- ۱۷ "ځکه چې هر څوک چې د خدای د روح په هدایت چلیږی، هغه د خدای بچی دی. او کوم روح چې تاسو موندی دی، هغه د غلامۍ هغه روح نه دی چې تاسو بیا ویره وی، خو هغه روح دی کوم چې مونږ بچی جوړوی او مونږ د دې قابل کوی چې مونږ ووایو، "آبا!" یعنی، "ای پلاره!" په دې ویلو سره د خدای روح زمونږ د روح سره هم دا وائې د دې ګواهۍ لپاره چې مونږ د خدای بچی یو، او چې بچی یو نو وارثان هم یو. مونږ د خدای وارثان او د مسیح په میراث کې شریک یو، که داسې وی

چې مونږ د هغه د تکليفونو په زغملو کې شامل يو نو د هغه په جلال کې به هم شامل شو."
يوحنا ۱۴: ۲۶ "خو مددګار يعنی روح القدس چې به پلار زما په نوم را استوی، هغه به تاسو ته هر څه ښائی او بيا به درته هغه څه رايادوی، کوم چې ما تاسو ته ويلی دي"
يشعيا ۱۱: ۲ "د خدای روح به په هغه باندې وی يعنی د حکمت روح."
د روح القدس زيات تعليمات او هدايات د مقدس کلام د لوستلو څخه حاصليږی. د مقدس کلام د مطالعه کولو په وخت د هغه په باره کې فکر وکړی. عبارت ئې څو څو ځله تکرار کړی. آياتونه حفظ کړی او په ورځ کې هغه تکراروی. هره ورځ د خدای يوه وعده انتخابوی او د ورځی په اوږدو کې په هغی باندې فکر کوی. اجازه راکړی چې د خدای کلام ستاسو د وجود يو قسمت تشکيل کړی. په هغه وخت کې روح القدس کولای شی چې په مختلفو موقعو کې مناسبی او لازمی کلمی تاسو ته در په يادی کړی. تاسو هدايت او تشويق کړی. او همدارنګه هغه به د کلام په وسيله ستاسو ايمان قوی کړی. تر څو د ټولو دعاګانو جواب حاصل کړی.

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- دریم لوست بیا ولولئ هغه څه چې مو پدې هکله په خپله کتابچه کې لیکلی دي هغه دوباره بیا ولولئ.
۲- یو څو موضوع ګانی چې د دې درس د مطالعې په وخت کې روح القدس تاسو ته ښودلی دي هغه په لنډ او مختصر ډول په خپله کتابچه کې ولیکئ چې د دې کار نتیجه څه وه؟
۳- څلورم درس بیا ولولئ. آیا هغه څه چې د خدای کلام وایی تاسو ئې استعمالوی؟ دا امر څنګه تاسو سره مرسته کوی؟

## د روح القدس احساس تاسو هم احساس کړئ

د ورک شو په حال باندې د زړه سواندی په هکله او د ضرورتمندو د همدردی په باره کې مو خبری وکړی. دا احساس د خدای د هغه محبت څخه پیدا کیږی چې هغه ئې د هغوی سره لری. د هغه مقدس روح چې په مونږ کې اوسیږی د دې باعث کیږی چې د نورو خلکو په هکله محبت ولرو. هر څومره زیات چې د هغه خواستونو ته تسلیم شو دومره به د هغه د محبت نه ډک شو.

رومیان ۵: ۵ "او دا امید تشه خوش فهمی نه ده ځکه چې د روح القدس په وسیله چې مونږ له راکړی شو، زمونږ زړونه د خدای د مینی نه ډک کړی شول."

امکان لری چې کله د روح القدس په زیات زړه سواندی په دعا کی اوښکی توی کړو. خو په بله موقعه کې روح القدس به د دې باعث شی چې د خدای عبادت وکړو.

اول تسالونیکیان ۵: ۱۶- ۱۸ "هر وخت خوشحاله اوسئ. په دعا کې ناغه مه کوئ. او په هر حال کې شکر کوئ ځکه چې په عیسی مسیح کې ستاسو په هکله د خدای دغه رضا ده."

دویم تسالونیکیان ۱: ۳ "ای وروڼو! ستاسو په باب کې په مونږ هر وخت د خدای شکر ویستل فرض دی، او دا ځکه مناسب دی چې ستاسو ایمان ډیر لوئیږی او ستاسو یو بل سره مینه زیاتیږی."

فیلپیان ۱: ۳- ۴ "ما ته چې هر کله تاسو رایاد شئ نو د خپل خدای شکر وباسم. او په هره یوه دعا کې چې زه ئې ستاسو لپاره غواړم تل ډیر په خوشحالئ تاسو ټولو لپاره خواست کوم."

رومیان ۱۲: ۱۵ "د خوشحالو سره خوشحالی کوی، د ژړیدونکو سره ژړا کوئ."

د دعا طریقی په هکله مو خبری وکړی. خدای دې وکړی چې روح القدس زمونږ د وجود په هره برخه کې ترقی وکړی، یعنی هغه چې هر څه احساسوی مونږ ئې هم

احساس کړو. یعنی د ګناه په ضد پوره نفرت په خپلو ټولو اعمالو کې د خدای د خوشحالو لپاره شوق، د نورو خلکو د ګناه څخه د آزادی لپاره ارزو، د مسیح د بیا راتلو او په مځکه باندې د هغه د پادشاهی لپاره مینه د خدای او د خلکو سره مینه لرل. په خپلو دعا ګانو کې یوالی او ټینګوالی، د خدای پلار سره په شراکت لرلو خوشحالی، په دې باندې باور لرل چې هغه به جواب راکړی، او د هر هغه کار لپاره تیاریدل چې هغه ئې غواړی چې مونږ ئې سر ته ورسوو.

## ستاسو کار
**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی**

**۴**- لمړی لوست بیا ولولی. او د روح القدس څخه وغواړی چې په هغه وخت کې چې د خدای په هکله فکر کوی ستاسو په ډیره ژوره توګه په خپل عبادت کې لارښودنه وکړی.
**۵**- دویم لوست بیا ولولی او د روح القدس ځینې وغواړی چې ښه رفتار او سلوک په تاسو کې نور هم زیات او قوی کړی.

۲- د روح القدس مرستی ته وخت ورکړی چې د خدای په دعا، دعا وکړی. او هغه ته وخت ورکړی چې په غور سره یی هره برخه ښه احساس کړی.

## روح القدس ته وخت ورکړی چې ستاسو په وسیله دعا وکړی

اکثره وخت مونږ نه پوهیږو چې کومه طریقه او څنګه دعا وکړو. د یو کس ضروریات او د هغه د حلولو په لار نه پوهیږو. د خدای په کامله اراده نه پوهیږو یا شاید نشو کولای چې د هغه ذخیره شوی محبت چې زمونږ په زړه کې د خدای لپاره وی او یا غصه چې زمونږ زړونه زخمی کوی او هغه داخلی تشویشونو لپاره، د ویری او نامیدی لپاره مناسبی کلمی پیدا کړو. روح القدس غواړی چې په خپل ټولو خواستونو او داخلی ضرورتونو زمونږ په ځای د خدای سره خبری وکړی. کله دا هم امکان لری چې ستاسو د شونډو په وسیله په بله ژبه خبری وکړی چې په حقیقت کې هغه ستاسو د فکر څخه نه راځی. تاسو د روح القدس د الهام په وسیله روحی مینه او شکر ګذاری د خدای بیانوی. کله دا هم امکان لری چې خدای دې مطلب ته ترجیح ورکړی او په خپله ژبه په خاص دعا، سره د هغه حضور ته وړاندې کړی.

رومیان ۸: ۲۲- ۲۷ " روح القدس هم په دې شان زمونږ په کمزورتیاؤ کې مدد کوی. مونږ ته دا هم نه ده معلومه چې دعا څنګه کول په کار دی خو روح القدس په اسویلو زمونږ شفاعت کوی چې په لفظونو کې نه شی بیان کیدلی. او خدای څوک چې زمونږ د زړونو لیدونکی دی، هغهٔ ته دا معلومه ده چې د دې روح القدس خیال څه دی ځکه چې هغه د خدای د خلقو لپاره د خدای د مرضۍ په مطابق شفاعت کوی."
اول کورنتیان ۱۴: ۲ "څوک چې په روحانی ژبه کې خبری کوی نو هغه د خلکو سره نه، بلکه د خدای سره خبری کوی، ځکه چې څوک د هغه په خبره پوهیږی نه اګر که هغه د روح په وسیله د راز خبری کوی."
د داسې دعا ګانو په کولو سره څه یو لوی آرام او تسلیت زمونږ په نصیب کیږی! دا ښه خبره نه ده چې هر هغه شی د خپل تکلیف او مشکل په هکله او د هغوی د حل او له ځان څخه د لری کولو طریقه وپوهیږو. روح القدس هغه مشکلات په خپله ژبه بیانوی او ډیر ښه د حل لار ئې منځ ته راولی. روح القدس د خدای د ارادی په مطابق دعا کوی او مونږ ته اطمینان راکوی چې ستاسو دعا قبوله شی. دا قسم دعا د "روحانی دعا" یا "په روحانی ژبو دعا" په نوم یادیږی. ځینی خلک د هغوی یونانی بیخ ته رجوع کوی او هغه ته "ژبی" وایی. نن په ټوله نړۍ کې په میلونونو مسیحیان روح القدس ته وخت ورکوی تر څو د خپلی

خوښی دعا د هغوی په وسیله وکړی. دا کار د اول ځل لپاره د پینطکاست په ورځ د عیسی مسیح د مریدانو سره شوی وو چې تقریباً ۱۲۰ کسان وو. هغوی د روح القدس څخه معموره شول او په هغه ژبو باندې ئې خبری وکړی چې د دې وخت پورې ئې نه وی زده کړی او د خدای شکر ئې وکړو. او په هغه ډله کې چې ځینی خلک چې د مختلفو هیوادونو څخه راغلی وو د دې ژبو په معنی باندې وپوهیدل چې د مسیحیانو په وسیله ویل کیدلی هغوی د خدای د عجیبه کارونو په هکله خبری کولی.

اعمال ۲: ۴ "او ټول په روح القدس معمور شول او په پردو ژبو ئې خبری شروع کړی څنګه چې روح القدس د خبرو طاقت ورکړو."

دا واضح خبره ده چې پولوس رسول به د دعا کولو په وخت کې نوو ایماندارانو، مسیحی کار کونکو او نوو کلیساګانو ته د روح القدس اجازت ورکاوه چې د ډیر وخت لپاره د هغه په وسیله دعا وکړی (هغه په دې هکله "په روح کې دعا" ته اشاره کوی) البته دا کار د دې نه باعث کیده چې هغوی د خپلو ژبو د دعا کولو نه مخنیوی وشی. روح القدس مونږ سره مدد کوی چې په دواړو حالاتو کې دعا وکړو.

اول کورنتیان ۱۴: ۱۴- ۱۵ "د دې لپاره که زه په دعا کې هم دغه شان ژبه استعمالوم نو زما روح خو دعا کوی ولی

عقل مې بې کاره دی. نو بیا څه کول په کار دی؟ زه به په روح کې هم د ثنا سندری ووایم او په عقل کې هم."

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ**

۷- هغه امتیازات او ګټې ولیکئ کوم چې تاسو روح القدس ته اجازه ورکوئ او هغه ستاسو په وسیله دعا کوی.

۸- تاسو که چیری د دې خبری احساس کوئ چې ډیر په ژوره سطحه د دعا کولو محتاجه یی نو دا موضوع روح القدس ته پیش کړئ.

۹- اوس **۵** لوست بیا ولولئ او د روح القدس نه وغواړئ چې هماغه احساس کوم چې هغه ستاسو د ضرورتونو په مقابل کې لری تاسو ئې هم ولری. روح القدس ته وخت ورکړئ چې تاسو ته لارښودنه وکړی او ستاسو په وسیله هر یو ته په جدا ډول دعا وکړی. هغه الفاظ چې هغه ستاسو په خوله راولی بیان ئې کړئ.

روح القدس به دې خلکو د خدای د ارادی په مطابق دعا وکړی.

**د روح القدس په قدرت کې عمل وکړئ**

مونږ او تاسی د دې کتاب په هره برخه کې په دې هکله خبرې وکړې چې څنګه کولی شو چې خدای ته وخت ورکړو چې هغه زمونږ د دعا په جواب کې زمونږ څخه کار واخلي. مونږ د دستورالعمل په مطابق د روح القدس غږ ته غوږ نیسو، خو څنګه کولی شو چې د هغه حکمونه اجرا کړو؟ د هغه د قدرت په وسیله!

فیلپیان ۲: ۱۳ "ځکه چې خدای په تاسو کې نیت او عمل دواړه د خپلې نیکې ارادې پوره کولو لپاره پیدا کوي."

مونږ د دعا نه او د هغه څخه د مرستې د غوښتلو نه وروسته کولی شو چې پدې باور باندې بهر ته لاړ شو چې هغه به د خپلو اوامرو د پوره کولو لپاره مونږ ته قدرت راکړي. مونږ د هغه نه دا غواړو چې زمونږ ملګرو ته خلاصون ورکړي، او هغه مونږ ته وايي چې د هغوی سره د مسیح په هکله خبرې وکړو. مونږ د هغه نه سوال کوو چې راسره مرسته وکړي او بیا هغه مرسته کوي. مونږ کولی شو چې په دې باور باندې چې خدای زمونږ دعاګانو ته جواب راکوي خبرې او عمل وکړو.

اول یوحنا ۵: ۱۴- ۱۵ "مونږ په دې زړۀ ورتیا سره خدای ته ودریدی شو چې کله مونږ د هغه د مرضۍ په مطابق سوال ترې نه کوو نو هغه زمونږ آوري. او مونږ په دې پوهه یو چې خدای زمونږ خبرې آوري او مونږ په دې هم پوهیږو چې مونږ چې څه غواړو هغه ئې راکوي."

د روح القدس قدرت صرف د هغه د شاهد کیدلو لپاره ندې ورکړ شوی، مګر د دې لپاره چې د هغه لپاره ژوند وکړو او هغه شی جوړیدل کوم چې هغه غواړی. زمونږ ژوند کولی شی چې زمونږ د وینا نه زیات د مسیح د محبت او قدرت په هکله خبری وکړی.

اعمال ۱: ۸ "خو تاسو ته به د روح القدس په نازلیدو طاقت درکړی شی او تاسو به په بیت المقدس کې او په ټوله یهودیه او سامریه کې او د دې نه اخوا د دنیا تر بله سره زما شاهدان یئ."

دویم تیموتیوس ۱: ۷ "ځکه کوم روح چې خدای مونږ ته راکړی دی، د ویری د پاره نه، بلکه د قدرت، د مینی او په نفس قابو کولو طاقت لپاره."

ګلتیان ۵: ۱۲ "زما مطلب دا دی چې که تاسو د خدای د روح په ښودلی لار روان یئ نو دا جسمانی شوقونه به هیڅ کله هم پوره نه کړئ."

تاسو چې تقریباً دا کتاب ولوست دا به تاسو لپاره یو ښه تمرین وی چې هغه لوستل شوی موضوع ګانی عملی کړی. البته شیطان، یعنی د شر او فساد روح به کوشش وکړی چې ستاسو څخه ممانعت وکړی. هغه د خدای د کارونو مخالفت کوی او نه غواړی چې تاسو دعا وکړی، خو روح القدس په تاسو سره مدد وکړی. هغه به تاسو ته په شیطان باندې قدرت او کامیابی درکړی او د خدای د ارادی د پوره کولو طاقت به هم درکړی. خدای دې برکت

درکړی او ستاسو ځينې کار واخلی تر څو په دعا کې د خپل ځان او نورو لپاره لوی روحانې کاميابی حاصلی کړی.

افسيان ۶: ۱۷- ۱۸ "او د خلاصون ټوپۍ او د روح القدس توره راوخلۍ چې د خدای کلام دی او هر وخت په هر شان په روح القدس کې دعا کوۍ او زاری کوی، او د دې لپاره بيدار اوسۍ او د ټولو پاکانو لپاره بې ناغې دعا کوۍ."

دويم کورنتيان ۱۰: ۴- ۵ "ځکه چې زمونږ د جنګ وسلی انسانی نه دی بلکه د خدای په قدرت د بدو قلاګانو د نړولو جوګه دی. ځکه خو مونږ د دليلونو او هر هغه رکاوټ څيز چې د خدای د پيژندګلۍ خلاف ئې سر اوچت کړی دی، نړوو او هر يو خيال قيدوو او د مسيح فرمانبرداری کوو."

يهودا ۲۰ "زما دوستانو! تاسو خپل ځانونه د خپل غوره ايمان په بنياد قائم کړۍ او د روح القدس په طاقت دعا ګانی کوۍ."

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ**

۱۰- شپږم لوست بیا ولولئ او د خدای نه وغواړئ چې درسره مرسته وکړي چې د هغه په الهی قدرت کې لکه څنګه چې د نورو لپاره دعا کوی او هغه څه چې د نورو د تشویق لپاره تاسو لری سر ته ورسوی.

۱۱- په خپله کتابچه کې د مشکلاتو هغه برخه ولیکئ چې روح القدس ته ضرورت لری. دا د خدای حضور ته وړاندې کړئ او بیا بهر ته لاړ شئ چې د هغه په قدرت کې دې مشکلاتو ته شکست ورکړئ.